# تا د اوبو په حافظه کې وینم

عبدُالغفور لیوال


تا د اوبو په څپاڼه کې وینم
عبدالغفور لیوال

## د کتاب پېژندنه::


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | تا د اوبو په حافظه کې وينم |
| شاعر | :: | عبدالغفور لېوال |
| بيا کتنه او تصحيح | :: | فضل الهي پتمل |
| کمپوز | :: | خپله شاعر |
| ترتيب او ډيزاين | :: | فريد احمد پتمل |
| د پښتې انځور او خط | :: | استاد محمد مهدي ميرزايي، استاد شکيلا عالمي او استاد ګل احمد انوري |
| لومړی چاپ | :: | ۱۳۹۸ لمريز – ۲۰۱۹ زېږديز |
| د چاپ شمېر | :: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| خپرونکی | :: | ادبي چينه کوټه |
| د خپرونو لړ | :: | څلورم |
| چاپ ځای | :: | يونايټيډ پرنټرز کوټه |


**ټول حقوق يې په ليکوال او خپرندويې ټولنې پورې اړه لري.**

Copyright © 2019 Adabi Cheena- www.fb.com/adabicheena
E-Mail: Adabi.Cheena@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د خپرندویې ټولنې یادښت

ادبي چینه له تېرو اوو کالو راهیسې خپل ادبي ډګر تود ساتلی دی او تل یې د خپلې ګرانې او خوږې پښتو ژبې د پرمختګ لپاره هلې ځلې کړې دي او کوي یې؛ لکه ادبي ناستې چې هره اونۍ یې په ټاکلي ځای کې تر سره کوي، د میاشتې په څلورو اونیو کې مختلفې ایجنډې او پروګرامونه لري. له دې سره سره ادبي چینې خپرونې هم کړي: لیکوالي املا او انشاء د استاد ګل پاچا الفت، افغانستان په اوستا کې د پروفېسر دوست شینواري او د ناورین اوښکه شعري ټولګه.

مګر دا ځل یې غټه لاسته راوړنه داده چې د ډېر پیاوړي لیکوال او شاعر استاد عبدالغفور لېوال کتاب [تا د اوبو په حافظه کې وینم] لومړی چاپ د خپرولو ویاړ یې تر لاسه کړ. که څه هم د لېوال صاحب دغه شعري ټولګې ته ډېر کسان چمتو وو چې چاپ یې کړي، خو ښاغلي لېوال صاحب دغه ویاړ په ادبي چینې ولوراوه. د ادبي چینې اداره هم له ښاغلي لېوال صاحب څخه مننده یه ده.

په درنښت

ادبي چینه کوټه

# ډالۍ

هغوی ته، چې له خپلو مینو سره یې

د دې قلم، د شعرونو په ژبه، راز و نیاز کړی!

# مننه

تر (ګلغوټۍ ته اووم سرود) روسته، ژر د بلې شعري ټولګې خپراوي ته چمتو نه وم. ګومان مې کاوه، شعرونه لا دومره نه دي، چې يوه ښه ټولګه دې ترې خپره شي، خو کوټه مېشت ملګري، پر فرهنګ و فضل و ادب مېين افغان، ښه شاعر و ليکوال درانه فضل الهي پتمل په ټينګار غوښتنه وکړه، چې دا کتاب راخپور کړي.

ما هسې ګډوډ شعرونه ورواستول، ده او په (ادبي چينه کوټه) کې د ده نورو درنو ملګريو ورڅخه دغه هنري ګلګېډۍ جوړه کړه.

پر پوښ، ميناتور و خط يې درنو استادانو هر يوه محمد مهدي ميرزايي، مېرمن شکيلا عالمي او ګل احمد انوري خپلې ګوتې زهيرې کړې او نورو يارانو، چې ماته يې نومونه نه دي راکړل شوي، د چاپ په برخه کې سترې وزغملې. له ټولو مننه کوم؛

خو د قدرمن پتمل صاحب او زما د وراره فريد احمد پتمل او (ادبي چينه کوټه) خوښنه او منښته د تورو تر ځايښته لويه بوله، ځکه له نشت يې دا هر څه شته کړل.

خدای مو هسک څلوه دومره
چې رڼا مو د ميينو د سلام شي

لېوال

# لړلیک


| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | نظر ........................................ | ۹ |
| ۲. | یوازې څو شېبې ژوند .................................... | ۱۲ |
| ۳. | مخه ښه .................................................... | ۱۷ |
| ۴. | سودا .................................................... | ۱۹ |
| ۵. | سفر .................................................... | ۲۰ |
| ۶. | رنګ .................................................... | ۲۱ |
| ۷. | مورې مورې! .................................................... | ۲۲ |
| ۸. | د سپېڅلو شېبو استازې .................................................... | ۲۴ |
| ۹. | څښې او هوا .................................................... | ۲۷ |
| ۱۰. | شېبه .................................................... | ۲۸ |
| ۱۱. | انټرناسیونال سرود .................................................... | ۲۹ |
| ۱۲. | مروه لا خاندي! .................................................... | ۳۱ |
| ۱۳. | پوښتنه .................................................... | ۳۳ |
| ۱۴. | که څوک یې نه مني، چې: ژوند ښکلی دی! ........ | ۳۵ |
| ۱۵. | باور .................................................... | ۳۷ |
| ۱۶. | ټوکه (۲) .................................................... | ۳۸ |
| ۱۷. | د اروا ژمی .................................................... | ۴۰ |
| ۱۸. | لونګ .................................................... | ۴۲ |
| ۱۹. | هغلته، چې ډېوې بلیږي .................................................... | ۴۵ |
| ۲۰. | ناوې ته سرود .................................................... | ۴۸ |
| ۲۱. | هولي .................................................... | ۴۹ |
| ۲۲. | باران .................................................... | ۵۰ |
| ۲۳. | ښښنه .................................................... | ۵۲ |

۲۴. مهرباني ........................ ۵۳
۲۵. های د زلما رسوايي! ........................ ۵۶
۲۶. د کهف يارانو! ........................ ۵۹
۲۷. توپير ........................ ۶۲
۲۸. حسرت ........................ ۶۳
۲۹. غيرت ........................ ۶۵
۳۰. انديښنه ........................ ۶۶
۳۱. باران ........................ ۶۸
۳۲. چي ميين يو لا ژوندي يو ........................ ۶۹
۳۳. کابل ........................ ۷۵
۳۴. پوښتنې ........................ ۷۹
۳۵. خپلواکي ........................ ۸۳
۳۶. هو، دا ته يې! ........................ ۸۵
۳۷. ژوندون ........................ ۸۷
۳۸. پېښوره! ........................ ۸۸
۳۹. هو! ته افغان يې ........................ ۹۰
۴۰. تاته وايم ........................ ۹۲
۴۱. راشه چې در ځار شمه ........................ ۹۴

## غزلونه

۴۲. بنګړه ........................ ۹۶
۴۳. يه پيرې کاملې! ........................ ۹۸
۴۴. لنبې په پياله کې ........................ ۱۰۰
۴۵. اشراق ........................ ۱۰۱
۴۶. رڼه ښکلا ........................ ۱۰۳
۴۷. اور ........................ ۱۰۴
۴۸. ځنګ ........................ ۱۰۶
۴۹. د نور له نوره ........................ ۱۰۷

۵۰. **ختيځ** ۱۱۰

# نظر

اسلامیت او افغانیت د افغان ملت د ژوندانه پیاوړې ستنې او د افغانانو ژوند په همدغو ستنو ولاړ دی. د اسلام ساتنه او د هیواد ساتنه د هر افغان په نزد یوه سپېڅلې فریضه ګڼل کیږي. د پیغمبر (ص) حدیث دی: [حب الوطن من الایمان] دغه حدیث د افغانیت جوهر دی.

په انسانانو کې ډېر توپیر شته؛ ځیني ځان جوړوي ځیني هیواد. که ټول انسانان یو شانته وای، نو نن به په نړۍ کې بدمرغي نه وای. نړیوالو ته اوس هم موږ پښتانه یا افغانان ویده، شډل، بې تهذیبه او بې فرهنګه ښکارو. دوی وایي چې پښتون قوم جمال او کمال نه پېژني. خو دومره باید ووایم چې که د پښتانه قوم ژوند ډېر له کړاوونو څخه ډک دی، خو بیا هم په هر څه پوهیږي. که څه هم زموږ په هیواد کې څه کم نیمه پېړۍ هرج مرج روان دی؛ زموږ مادي، معنوي، علمي او فرهنګي چارې هم پکې زیانمنې شوي څه ان ختمې شوي دي. که څه هم موږ دغه تاړاکونه پخوا لیدلي او په تاریخ کې ورسره نابلده نه یو، له سکندر مقدوني یې راواخله بیا تر عربو، چنګېزیانو، مغلو، انګرېزانو، روسانو او تر روان ناتاره پورې چې نه غربي اسره کړې او نه هم ګاونډیانو. مګر د افغانانو ملي یووالی په نړۍ کې نوم لري. خو د افغانانو غټه ستونزه بې اتفاقي ده. سید جمال الدین (رح) به ویل که افغانان سره متحد شي، د دنیا یو طاقت به یې هم مخه ونه شي

نیولای. خو له بده مرغه چې افغانانو یوه ورځ اتفاق کړی دی هغه پدې چې موږ به یووالی نه سره کوو.

پښتانه له هر چا نه زیاته مینه پېژني. مینه هغه جذباتي کیفیت دی چې د وجود په ذره ذره کې حاوي او طاري شي او حسن د یو نه بیانېدونکي توازن د اثر احساس دی. که څه هم دا توصیف ناقص دی. ځکه دا د انساني روح محسوس او ماوراء عقل کیفیاتو مفاهیم یا اصطلاحات دي. خو دا مې ایمان دی چې د هستۍ ټول بنیاد دغه د مینې (جاذبه) او د حسن (کرشمه) ده. زموږ شمسي نظام او ټوله ګیلکسي د دغې جاذبې په قانونمندۍ ولاړه ده. د ذرې (اتوم) په دننه کې د الکترون او پروتون معین جاذبوي توازن دغه د مینې او حسن د جاذبې او توازن مسئله ده.

چې په مینه څوک مین شي، نه بېلتون شته نه وصال
چې دا ځان له ځانه ووځي، بیا نه غم شته نه جنجال

که دې ستر ګې شي حسینې، حسن ستا د در غلام
دا خو ستا د ستر ګو رنګ دی، دا ښایست او دا جمال

لکه څنګه چې مخکې ذکر شوي دي، د ګاونډیو او نورو قوتونو لاسونه هم اوس ورلنډ شوي دي. ځکه پخوا افغانان یوازي په جنګ کې غښتلي وو، اوس په سیاست کې هم لاسبري دي. که موږ د خپل هېواد د ادبیاتو په تاریخ باندي لنډ نظر واچوو، زموږ د هېواد ادبیات له شفاهي دورې نه بیا تر اوستایي دورې او له هغه راوروسته بیا تر اوسه پورې زموږ ادبیات

پوړ په پوړ پورته شوي دي. ادب د يوه هيواد د ملي فرهنګ روښانه او ځلانده هنداره ده. اديب د هيواد د وګړو ملي سترګه ده. هيوادوال د اديب يا شاعر په سترګو کې خپل تېر او راتلونکي وياړنې او ويرنې ګوري. د يوه ليکوال او شاعر مطلب هم دا وي چې ولس ته داسي نوی شی را او چت کړي تر څو هغوی له خپل راتلونکي ژوند څخه خوند واخلي.

زموږ په هيواد او سيمې کې ادب او سياست سره جلا وو؛ ځکه مو نتيجه کمزورې وه. اوس که دا يو ګام پورته کړو چې ساينس او ادب سره يوځای کړو، نو موږ نور پرمختګ ورسره کولای شو. د ښاغلي استاد عبدالغفور لېوال په اشعارو کې پورتنۍ خبرې ټولې ذکر شوي. استاد دا هڅه کړې چې د ملک او قوم هغه نيمګړتياوې ټولې په ګوته کړي تر څو موږ د حل و فصل لاره ولټوو. ښاغلي لېوال د شاعرانو لپاره يو نوی اسلوب رامنځته کړی او راتلونکو شاعرانو ته يې لاره ډېره هواره کړې ده. د استاد په شاعري کې غټ کمال په دې کې دی چې د پخواني يونان او اوسني شرق او غرب هغه وتلي څېرې او د هغوی کړنې يې په ډېر ښه وضاحت سره بيان کړې دي. استاد په ملک کې، د مظلومانو د ساندو اواز پورته کړی او ظالم ته يې سزا غوښتې ده. ښاغلی لېوال د هېواد د ابادۍ او د خلکو د ذهنونو د راويښولو او جوړولو لويه هستي او موثقه مرجع ده. زموږ ګران وطن داسي فکرونو ته ډېره اړتيا لري.

په درنښت

فضل الهي پتمل

که (زه) نه وای عشق به تا لره بلل څوک ؟...

ستر خوشال

# یوازې څو شېبې ژوند

زما یوازې هغه شېبې په ژوند کې شمار دي، چې له تا سره وم.

لېونی

ژوند ډېرې برخې لري، هر څه چې د هر چا لپاره وي، وي به؛ خو شاعري او شاعرانه شېبې د مینې لپاره دي، مانا ستا لپاره دي.

زما شاعري لا هم د مینې لپاره ده. مانا ستا لپاره، بلکې لا هم: "ته زما ټوله شاعري يې!"

... خو کيسه یوازې دا نه ده. شاعري بدلیږي، د شاعرۍ ژبه پخیږي، خیالونه ځانګور کیږي او انځورونه لکه راته غمي لا پسې ځلا مومي، دې ټولو ته یوازې د مینې زور او د عاشقانه جنون شور بويه.

دا کيسه له ادمه تر دې دمه روانه ده، که مینه نه وای، شاعري به نه وه او هنر به چا نه پېژاند.

مینې ته هم یو و بل تعبیر و تفسیر مه لټوئ، سمه سپېڅلې یې ووایئ، مینه یعنې د شاعر/ شاعرې له معشوقې/ معشوق سره مینه، بس خلاص.

ځینې شاعران د یوې زمانې شاعران وي، یا د هغوی شاعري د لوړتیا (اوج) یوه څوکه لري، چې تر دې څوکې له وراوښتلو روسته بېرته مخ په ځوړ راپرځي. کاشکې ځینې شاعران د لوړتیا په همدې څوکه کې قلم کېږدي. نه دا چې خلک یې په شعرونو کې پخوانی لېونتوب و شور لټوي، خو دی/ دا لګیا وي ایله خلک خبروي، چې زه لا ژوندی/ژوندۍ یم او ساه راکاږم.

د دغو شاعرانو ربړه داده، چې ګومان کوي، نور نه ښایي مینه وکړي، په مینه شرمېږي. د پخوالي چمونه پیلوي، عرفاني پېښې، موعظې او مرده باد و زنده باد! ته ورلوېږي. که یې مینه انځور کړه، که یې معشوقه وستایله، که یې د خپل مېینتوب شېبې انځور کړې، نو وېرېږي، چې خلک به ورته ووایي: اوس نو ناوخته ده!

زه داسې نه یم. زه پر تا مېین یم او له چا وېرېږم هم نه، چې ته یې او چې پر تا مېین یم، شاعریم، تر هغه ها خوا به نه یم، بس همدا.

ته، مینه، شعر او زه؛ دا لړۍ زموږ د (وجود) ماهیت دی.

زه دې ډېر بد روږدی کړی یم، څومره چې زړېږم، هومره دې په مینه کې زور زیاتېږي. ستا د شونډو خواږه لکه زر کلن شراب، خدای دې نه کړي، چې له دې نشې راویښ شم، په همدې نشه کې ډوب مرګ د هنرمند (زما) تر ټولو لوی ارمان دی.

د یوه بوډا لیکوال، چې اوس دې یې هغه دنیا وررنګینه وي– له تبصرې خبر شوم، چې زما پر شعرونو میین وو، خو (زما) د حضور – وجود Existence بیا بیا په مخه ور تلل یې نه خوښېدل.

پر بوډا مې زړه وسوځېد، ځکه په دومره وړه خبره هم نه پوهېده، چې د شاعر (زه) د هنري معرفت په دنیا کې د (موږ) د مدلول دال دی.

زما د شاعرانه مانۍ خاونده (ته) یې، هو ته د دې مانۍ ناوې یې. ته! مانا زما معشوقه! کله چې ته دلته وې او یې، نو (زه) به چېرته وای؟

د مجنون (قیس) هغه خبره مې خوښیږي؛ چا ورته خبر راوړی و چې لیلا دې د بېلتانه له غمه دومره ناروغه ده، چې ښایي ومري. مجنون خندلي وو: خدای دې خوار کړه، چې (زه) ژوندی یم لیلا نه مري.

که څوک هم زما د شعر مانۍ ته راځي او په ښکلا پسې ګرځي نو (ما) بهویني، عشق به ویني او تا به ویني.

پېړۍ پېړۍ خواري وشوه، چې مینه له زمکې اسمان ته ولاړه شي، زمکنۍ معشوقه اسماني شي، پر دغې خوارۍ یې له مجازه و حقیقت ته د تېښتې رياضت نوم ایښی و...

خو زه غواړم اسماني شوې معشوقه زمکې ته راستنه کړم. همدلته، پر همدغې زمکه ورته وګورم، ان په غېږ کې یې ټینګه کړم او هره هغه شېبه چې ورسره یم، ژوند وکړم و شعر یې کړم، هنر یې کړم او نړۍ ته یې پرېږدم.

پرېږده چې ووایم: زما معشوقه حقیقي ده، همدلته ده، شته، حضور، وجود Existence یې ثابت دی او د هوا یوه برخه یې نیولې ده، باد

يې زلفې لمسولای شي، زه يې عطر پېژنم او ډېر ځله مې د هغې د کوشني زړه دربا او د ولوليزې ساه ايستنې وربښمين غږ په خپل روح و بدن کې حس کړی دی.

شاعرانه (هنري) رېښتينولي (صداقت) همدې ته وايي.

زما د شعر مانۍ – چې ملکه يې ته يې – پوړۍ په پوړۍ لوړېږي، په يوه پوړ کې دې اسماني رنګه جامې اغوستي او هينداريې ته ناسته يې، په بل کې دې تک سور کميس دی او لکه د ګلو ګېډۍ د اوبو له فوارې سره يوځای ناځې. هنر د ښکلا پنځولو هڅه ده، نوې ښکلا په نوي ځای (موقعيت) کې.

تر (ګلغوټۍ ته اووم سرود) روسته دا دی، بله پوړۍ راهسکه شوه، ما نه غوښتل د خپل شعر ننداريې ته تږي مينه وال، ژر ورته راولم، خو د يارانو زور راباندې برشو...

دا چې په دې پوړۍ کې ته څنګه ښکارې او (زه) څنګه؟ پر ېږده يې چې نور يې وګوري. بوډا هسې هم د هغې نړۍ مېلمه دی.

نجونې او پر هغوی مېين ځوانان زما و ستا پر مينه مېينان دي، نه توبه! په مينه به مو مېينان وي که نه، خو تا ته د مينې پر هغو سرودونو او سندرو مېينان دي، چې ستا سترګې يې زما قلم ته وربښي.

تر اوو سمندرونو هاخوا پښتنې نجونې د غږ ايستنې زړه لري، ځينې يې دلته هم. ځوانان خو هر ځای غږ پور ته کوي، له ما يې وعده واخيسته چې (ستا) لپاره خپل نور سرودونه او سندرې هم خپرې کړم، د دغې

شعر ګېډۍ ګڼ شعرونه یې پښتو لا لوستي، خو دوی کتاب غواړي، چې دا دی د مینه والو فرهنګي ملګرو په مېړانه او هڅه خپرېږي.

دا ځل، د مانۍ په دغې پوړۍ کې، له لاژوردي غمیو جوړ، یو لوی ډنډ دی. په دې ډنډ کې داسې رڼې اوبه دي، لکه ستا ښکلا او زما مینه. په دې پوړ کې د دې ډنډ رڼې اوبه ستا په اړه فکر کوي او ستا په اړه سندره وایي، زرزري کبان یې ستا پر پایزېبونو راتاو دي او ستا ښکلا په کې له څپو سره یوځای (شعر) بهوي او (هنر) پنځوي.

ښایي ځکه د دې پوړۍ نوم شو:

تا د اوبو په حافظه کې وینم!

ته دې د ښکلا تر پایښته وپایې!

ستا مینه دې د نورو مرمرینو پوړیو تر هسکه وځلیږه او زه دې همداسې ډوب یم.

یاهو!

عبدالغفور لېوال

۱۳۹۸ د تلې څلورمه

تهران – الهیه

# مخه ښه

... ورځه په مخه دې ښه!
خدای دې په تود شمال هم مه خوږوه!
ورځه! او ټولې زندګۍ ته دې سلام وايه!
ګلغوټۍ!
ولاړه شه، قدم واخله!
هلته د ژېړو طلايي پردو په وړانګو کې موسکا وکړه!
لمر ته ستر ګک ووهه، ستورو ته دې ناز وکړه!
سپوږمۍ ته غلی شان اواز وکړه!
تورو تيارو کې درنه ورک سړی په خدای وسپاره!
د ماښامونو سړی مه يادوه
نن يې اسمان ته ستر ګې ونيولې
ديوې اوښکې ليک يې ولېږه دخدای دربار ته
خدای، د مريم د ګل پرپاڼه ورځواب کړ بېرته:
((اوس ژوندون رنګ بدلوي

لکه له خپل زړ کلن کور نه دې چې وشړي څوک...))
ګلغوټۍ ولاړه شه، قدم واخله!
ستا په پیکي کې د مریم هغه ګل مه غورځوه
له زړ کلن خوبه راویښه شه، سهار دی، لمر پر هسک ختلی
ګلغوټۍ لاس دې خلاص کړه!
رغوی دې وګوره، نکریزو کې یې څوک ښکاري؟
د دې سړي څېره په اوښکو باندې ومینځه لږ
ددې سړي څېره، د رغوي په نکریزو کې د ګل د مړاوې پاڼې په څېر
بس ستا له اوښکو څخه نم غواړي
دا سړی زړه لري او غم غواړي.
چې په کې خپله کیسه ونغاړي او ورکه یې کړي
داسې تور تم غواړي.
ګلغوټۍ ولاړه شه په مخه دې ښه!
په بسم الله قدم راواخله، کلیمه په هر یو ګام وایه!
ورځه او ټولې زندګۍ ته دې سلام وایه!

۱۳۹۵ د جوزا دیارلسم ماښام

## سودا

... چې را لوی شومه، نو پوی شومه:
"ارزښتونه" په پیسو خرڅیږي.
ان د "انسانیت" ارزښت هم.
چې ماشوم وم،
"ارزښتونه" وو، خو پیسې نه وې
ان د "ډوډۍ" پیسې هم.
یوه ورځ به راشي،
چې پیسې پرېمانه وي،
خو ارزښت نه وي، چې پرې واېې خلو،
آن د " ژوند" ارزښت هم.

# سفر

د الوتکې
د مېلمه پالې له سپین لاسه تکه توره قهوه
څه زنګوونکې، لکه ترنګ د سېتار
یا په نشه کې، لکه تورې هیندوګۍ سترګې
چې یو ستومانه مساپر
د عودو شنه لوګي کې وزنګوي.

داکتوبر ۱۸ / ۲۰۱۶

# رنګ

شونډې يې دومره سرې وې
چې وبه يې خندل؛
په هوا کې به د سرو عطرو کرښې ونښېدې
او ما؛
د رنګ و نور نڅا حافظې ته سپارله.

۲۴ تله ۱۳۹۵

جيپور – هندوستان

# مورې مورې!

مورې بيا دښوونځي دټالۍ کړنګ شو
زما بکسه دغريبۍ بلا خوړلې
دادانه شته، څوک به نوی پنسل راکړي
کتابچه مې دجګړې لنبو سيزلې

زما په جيب کې لږه وچه ډوډۍ کېږده
په تفريح کې به يې غلې غلې وخورم
وی وی مورې، خير دی خير! که ډوډۍ نه شته
نن بس موړيم سبق وايم ډوډۍ نه خورم

ادکۍ مورې الف وبې چې زده کړم
بيا به لوی سړی دګټې او دکار شم
هر لمانځه کې زمانوم په دعا اخله
چې هم تاته هم وطن ته خدمتګار شم*

---

*له يوې افغانۍ مور سره يې د ماشوم زړه خواله، چې ما يوازې منظومه کړه، وينا کټ مټ د ماشوم ده. نوم دې يې خوندي وي.

اې!
بېګا دې چېر ته خندلي دي؟
نن سهار ټولو ګلونو
تر وخت وړاندې غوټۍ غوړولې وې.

# د سپېڅلو شېبو استازی

مخ ته یوه لپه شبنم وشیندئ
چې د اوبو رنګ مو په ذهن کې خوندي پاتې شي.
مخ ته یوه لپه شبنم وشیندئ
زړه مو بیخي له مینې مه تشوئ
که نه سبا به مو د خپل ماشوم موسکا هم
د (ګناه) او د (ثواب) په درنو کاڼو تلئ.
له پاڼو څاڅکی څاڅکی پرخه پور کړئ
لاسونه ومینځئ د ګل په لنبو
یا یې د خپلې ښکلې مینې په خندا
او یا د مور په اوښکو
لاس پرېمینځلی ښه وي
خدای مه کړه، چېرې مو ناپامه د لاسو په ګوتو
د شنو کوترو او مرغیو خوب وژلی نه وي.
لاس پرېمینځلی ښه وي.

ګوتې د یار په تورو زلفو یا پستو څڼو کې ولمبوئ
بیا پرې تسبیح ووایئ.
دعاطفې پر پاڼو کښلې صحیفه ولولئ
ستر ګې مو وتړئ، نفس وباسئ
د ماشومانو د وړو خوبو له ډنډ څخه یو جام وڅښئ
او تر دې روسته ستر ګې پرانیزئ، لومړۍ جلوه:
همدا جنت دی.

ستر ګو کې اوښکې ښې وي
نړۍ ته، خیرې د نظر مه شیندئ

کله چې ګوتې په چینه کې د وړو تیږو تر منځ ښوروئ
مهرباني لکه غمی هلته ده
یوه مېږ من غوا لوشي
مهرباني د برګې غوا په ژبه
د شوخ خوسي تندي ته ناز ور کوي
مهرباني د شیدو داره ده
پر پاکه بادیه
مهرباني، تر هګۍ روسته کټ کټاس د کاکلۍ چر ګې ده
مهرباني د وښو پنډ لاندې د پلار ستمی دی.

اوبه رواني ښې دي
اوبه له غرونو راځي
او چې رواني وي، تر ډېرو موسیقي غږوي
موسیقي، پاڼو کې د باد شوخي ده
د ډله – ډله مکتبیانو د ګامونو موسیقي پېژنئ؟
په ښوونځي کې د شپږم ساعت کړنګا، د موسیقۍ تر ټولو ستر شهکار دی.
او شغ شغا پر توره دړه د اصیل تباشیر.
ستر ګې په اوښکو پرېمینځلې ښې وي.
که ستر ګې پاکې نه وي
دنیا خیر نه ښکاري.

۲۸– وری – ۱۳۹۶

# څښې او هوا

اې!
پسرلی ستا عطر لري،
چې تر راویښېدو روسته، غځونې کوې
باد،
له هوسه، د غوټیو پر غومبورو باندې خوله لګوي
څښې وڅنډه
سهار دی.

۶ ثور ۱۳۹۶

# شېبه

چې معشوقه خپه وي
او ته تلاش د پخلاینې کوې
چې لاس ترې تاو کړې او ښښنه غواړې
خو هغه تورو تورو سترګو کې غوسه وي دومره
چې په خوږه وېره دې وویروي
لاسونه موټې کړي، پاسته لاسونه
او په وړو وړو سوکانو دې وهي په ټټر
چې ته يې پټه کړې د مټو تر منځ
او هغه ځان خلاصوي
د نیاز و ناز همدغه لنډه شېبه
که ژوند همدلته خلاص شي
داسې شېبه کې مرګی ښکلی دی
او
ژوند ښکلی دی.

۲۴ ثور ۱۳۹۶

# "انترناسیونال سرود"

د نړۍ ټولو عاشقانو یو شئ!
هلئ راپاڅئ،
انقلاب وکړئ!
نړۍ خبره کړئ، نړۍ پوهه کړئ،
چې یوه لویه طبقه د میینانو هم شته
څوک یې د غم له خواږه درده خبر دي او که نه؟
څوک د لندو زلفو په شړک پوهیږي؟
چې تر باران روسته په مخ د میین څنګه لګي؟
په (کاپیتال) کې یې د ناز او کرشمو په اړه څه لیکلي؟
غم د ویشتلو یو دی
که تورو سترګو وي ویشتلی او یا شنو ویشتلی
د سوزېدلو زړو اواز یو دی
که غنمرنګو وي سیزلی یا په سپین کې ګلابي مخونو

د نړۍ ټولو عاشقانو يو شئ!
د دوه ميينو زړو تر منځه د (برلين) ديوال راونړوئ
او د رقيب په لاس راکښلي (ډيورنډ لاين) در ټول کړئ!
د نړۍ ټولو عاشقانو کچکولونه واخلئ،
هر يو د خپلو معشوقو له خندا ګانو نه (مازاد) راټول کړئ،
او لړ لړ ووېشئ، پر هغو ډېرينو زړونو
چې لا لګيا دي ماشومان وژني.
د (کار)، (کارګر) او د توليد فورمول کې
د (انسان) مينه او ژوند وسنجوئ!
د(تعصب امپرياليزم) سره جنګ پرې وکړئ!
د معشوقې د ناز – ادا مجسمه جوړه کړئ،
چېرته يې (سره ميدان) کې ودروئ
د ښکلې پېغلې د سترګک څټک راواخلئ
پرې د وروځو لور راوځرخوئ
چې د نړۍ د عاشقانو طلايي نښان شي.
ټول (زرنګار) ته راشئ!
سره يوځای د شنو قاتلو طبقو په وړاندې
د عشق (هورا) پورته کړئ.
د نړۍ ټولو عاشقانو يو شئ!

# مروه لا خاندي!

مروې*،
ویده شه په ارام پرېوځه،
خوب تر ويښتيا غوره دی.
مرګ تر ژوندونه ښه دی.
مروې،
ویده شه، دلته ويښ ځناور
تر انسانانو ډېر دي
دلته پیسې، تر عاطفې ګرانې دي
دلته چړې تېرې دي
ستا د نازک اندام د وینو تږې.
افغانستان وحشت اباد شو، د ثواب لپاره
افغانستان، هغه هېواد چې ته يې څو ورځې مېلمه وې او بس
افغانستان، چې لا شر ميږي به نه

---

* مروه، څلور کلنه ښکلې نجلۍ، د کابل په احمدشاه بابا مېنه کې ورکه شوه او بيا يې څو ورځې روسته په چړو ټوټې ټوټې بدن د ځځلو په ډېران کې وموندل شو، چې په بوجۍ کې يې اچولی وو.

په داسې خاوره کې به خښه شې او هېره به شې
چې د زرګونو ماشومانو په هډوکو باندې کانګې وهي
او د جګړې منطق له کانګو جوړ دی
دغه خوسا، دغه بوینه جګړه
دومره اوږده شوه چې اوس
پلرونه وژني د ګاونډ ماشومان
او د هغو له غوښو
خپلو کورونو ته (ډوډۍ) بودوي.
مروې،
اې
مرغلرې
اې کوشنۍ ببکې
کاشکې دې (حق) درلودای،
چې چېر ته لرې
د تاریخ له دې بوینې خاورې
په یوه بل ځای کې زوکړې وای مور.
داسې یو ځای چې لا یې خلکو انسانیت پېژندی
داسې یو ځای چې چړې تږې نه وای.
داسې یو ځای، چې ډوډۍ
د ماشومانو په وړو وړو سلګیو باندې نه خرڅېدې.
۱۳۹۶ جوزا ۸مه

# پوښتنه

اې
چې سره هېر یوو
یوې خواشینې ورېمې پاڼه وغور ځوله
خبر شوم، چې ناروغه یې؟
له چا دې پوښتنه وکړم؟
څنګه دې غږ واورم؟
باد،
سپوږمۍ،
یا د هینداري بنګړه
یو هم نه شته

چې تا ته ووايي:
زمانه يې هېره
او د ناروغۍ لپاره دې
ناروغ يم.

۱۳۹۶ ميزان ۲۳

## که څوک یې نه مني، چې: ژوند ښکلی دی!

چې یو ناڅاپه راشي
لاسونه کلک درنه را تاو کړي او پر مخ دې ښکل کړي
بیا دې اوږو او پر ټټر لاسونه وڅپوي
ښه چې ډاډه شي، نو د زړه له تله شکر وکړي:
"د خدای شکر ونه، چې ژوندی یې راته
زما دې زړه وویسته
بیګاه مې مړ په خوب لیدلې ګرانه،
سهار مې نیم بالښت په اوښکو لوند وو."
او چې ستومانه سیلولې دې تر څنګه کیني
ته یې د زړه د دربا غږ ته غوږ شې
د خپل کمیس پر ټټر دوه څاڅکي د اوښکو ته حیران پاتې شې
بیا دې تر څنګه، د هغې نمجن نظر ته ځیر شې
ته به هغې ته ګورې
او
هغې لرې په کوم ورک ځای وي نظر ګنډلی

لا به د خوب شېبه شېبه یادوي
چې ته دې ورو لاس پر اوږه ور کېږدې
ناڅاپه ولړزیږي،
وویریږي.
بیا مخ راواړوي، موسکۍ شي در ته...
د مینې دغه شېبه
دومره خوږه او دومره ښکلې ده، چې
ژوند
بس په دغو څو شېبو هم ارزي.

۴ لیندۍ ۱۳۹۶

# باور

پوهېدم
چې هېرولای مې نه شې،
مازیګرونه
لا هم
ستا پر عطرو مست دي.

# ټوکه (۲)

یو لېوني نه یې پوښتنه وکړه:
هه، که ځواب دې راکړ؛
پول څه شی دی؟
لېوني کړس وخندل:
پول هغه چت دی، چې ورلاندې تل اوبه بهیږي
او که پول نه وي، نو اوبه به بیا،
تر څه شي لاندې وبهیږي؟

۞ ۞ ۞

پښتون لالا نه یې پوښتنه وکړه:
چې له بابا، نیکه در پاتې زمکه څه ته وایې؟
پښتون پر بریتو ګوتې تاوې کړلې:
– میراثي زمکه، د غیرت نښه ده
د تربورانو د وژلو ډګر

د تره له زوی سره میدان د سیالۍ.
مګر پښتون لالا!
نو ولې پر دې زمکه کر او کښت نه کوې؟
هسې بوره او هسې شاړه پر ته...
– د بې غیرتو په شان مه غرېږه!
زمکه ناموس ده او ناموس باندې څوک کښت نه کوي!

۲۲ لیندۍ ۱۳۹۶

# دارواژمی

هغه موسم خو نه دی،
چې تبرلاستي نه دې شنه تېغنه را سر ووهي
ځانګه شي
او
ګل وکړي.
څه داسې ورځې راغلې،
چې ګلدانۍ کې اچولې اوبه
لکه تېزاب
د ګلدانۍ له ختې
ایرې ایرې
د پسرلي د راتلو تمه سیزي.
او سباوون
د پنجرې ستوني کې
لکه بېوخته زېږېدلی ماشوم

په خپلو وینو سور دی.
ته،
چې لا غره یې پرونۍ ښکلا ته
د کومې هیلې په نوم،
زما له شونډو نه موسکا غواړې؟

۲۴ لیندۍ ۱۳۹۶

# لونګ

تر زلما مې "لونګ" نه وو لیدلي
یوازې مې له راډیو
د سندرو په څپو کې پېژندل
زه ملامت نه وم،
ځکه کابل کې خو لونګ نه کیږي.
یو وخت یې د هیندو له دوکانه
لاچي
هیل کلان
تور مرچ
دارچیني
ځیره
او لونګ راوړي ول:
- یو څو تور تور چارګلک
له لنډکیو ډنډرونو سره -
او ما لونګ ولیدل،
د دې لونګو عطر
زما له حواسو سره دومره ګډ شول،
لکه چې زر کاله پخوا مې هیندوستان کې

د لونګو کاروبار کړی وي
لکه پخوا مې چې يو بل "جنم" کې
دوکان کې ناست د دوکاندار هيندو پر ځای چېر ته لونګ
خرڅول
بيا به چې نوم چا د لونګو واخيست
زما پر حواسو به د زرو کلو عطر داسې وغوړېدل
لکه له تا سره د زرو کلو ها خوا مينه.
يو وخت چې ته زما د ژوند مېلمه شوې
په افغاني ګرد کمرچين کميس دې
– هغه چې رنګ يې وو د شنې فېروزې –
له څه پاوليو سره مل
يو لوی امېل لونګ ټومبلي وو پرې
او ما لومړی ځل لونګين وليده
د لونګين تر شا مې مينه وکړه
ستا د بدن عطر د تورو لونګينو عطرو
وربېمې خورې کړې زما پر زرو کلو
زر کاله ها خوا هيندوستان کې د لونګو قوال
تا سره مينه وکړه.
شين افغاني د فېروزې په رنګ ګېډۍ کميس کې
په هغه ورک ځنګله کې
چې د لونګو بوټي ډېر ول په کې
زما او ستا د زر کلنې مينې ونه شنه شوه.

اوس لونګ ښه پېژنم
لونګ پر شنه فيروزه يي کميس يو لړ د عطرو
زر کاله مينه
او
په خوله کې:
د خوږو شونډو د څوکو مزه.

۲۵ ليندۍ ۱۳۹۶

# هغلته، چې ډېوې بلېږي

مور مې دې خدای وبښي
په دې باور وه، چې پخوا کلونه
له برکت او خیر نه ډک ول، لمر به سپین ځلېده
نوسونه* پاک ول او سپوږمۍ رڼه وه
ستوري به داسې پړ کېدل، لکه د ناوې په پیکي کې د دړیو ځلا

مور مې دې خدای وبښي
هغې ویل، چې (ملانور اخند) به سپور پر دیواله ګرځېده
او (غفارجان صاحب) به سیند کې د اوبو پر سر روان پورې وت
خو د پښو پوندې یې نه لندېدې
مور به قران په دومره ځیر لوسته، چې
د مشدد توري لپاره به یې ساه لنډه شوه
(رشید بیان) یې په روانه لوسته
(معراج نامې) ته به یې وژړل او نیمه (نورنامه) یې هم له یاده زده وه
مور به د شپې د تاوخانې له بامه
د کلي لویه هدیره کې د یوازې شهید قبر باندې
ډېوې له ورایه لیدې

---

*نوسونه: نفسونه

هغه شهید چې چېر ته لاره کې و غلو وژلی.
مور به د زوړ (وظیفات) ټولې وظیفې لوستلې
او لوی ارمان یې دا وو:
که هغه سپین نوراني اس یې – چې په خوب لیدلی –
د پاک رسول براق وي.
مورې ماشومانو د سالم اکا پالېز نه ول بادرنګ شکولي
مور د سنځلو یو پنډوکی لاس کې
سهار، د زوړ پالېزوان کور ته ولاړه
ګوندې چې شوخو ماشومانو ته ښنه وکړي
بیا به بادرنګ نه شکوي.

مور مې دې خدای وبښي
نه شته، چې ویې پوښتم:
مورې! دا اوس ولې د ستورو ځلا نه شته او سپوږمۍ خړه ده؟
ولې د لمر په مخ کې سرې کرښې د وینو ښکاري؟
مورې!
دا نن، چې هدیرې د شهیدانو له قبرو ډکې دي،
ولې پر هېڅ یوه ډیوې نه ښکاري؟
مورې!
دا نن د ملانور اخند تر پښو لاندې دیوال ولې ویجاړ دی،
وران دی؟
او غفارجان صاحب دوینو په ځپو کې لامبي؟
مورې خبره شوې، چې نن یې په جومات کې د قران او نورنامې پاڼې د اور خوراک کړې؟

معراجنامه په بم کې والوتله
مورې!
له لویې هدیرې څخه یو غبرګ راوکړه
بس دومره ووایه چې:
د ملا نور او غفار جان صاحب پر مېنه رالوی شوي ځوانان
چې د پلرو په شان دوی هم سپینې پګړۍ تړلي
ولې پر ځای د کتابونو تور ټوپک ګرځوي؟
نیم یې په تور بیرغ راټول دي نیم په سپینه جنډه
او مشدد توري د یو بل په تکفیر حفظوي؟

مور مې دې خدای وبښي
د کلي لویه هدیره کې لا د پاک رسول براق ویني په خوب، ویده ده.
او زما باور دی، چې پر هر قبر ډیوې بلې وي
بس هم هغه به زما د مور قبر وي.

۱۳۹۶ مرغومی ۵

له فولکلوره په الهام،
ښاغلي جاوېد شریف ته!

# ناوې ته سرود

دا دې کور، ناوېتوب دې بختور شــه
دا دې اور، ناوېتوب دې بختـور شــه

سور انار سرې يې دانې دي　　د دې کـــور اوبــه خـــوږې دي
پل دې کېږده پـه دې لـــور،　　ناوې توب دې بختـــــور شــه

دا دې کور، ناوېتوب دې بختور شــه

نـــاوې راشـــه تـــنـــاره تـــه　　مـېـخ پـرې ټـکـوهـه مـېـږه تـه
له نغري نـه واخـلـه سـکـــور　　ناوې توب دې بختـــــور شــه

دا دې کور، ناوېتوب دې بختور شــه

ودرېـږه مــخ قـــبـلـــې تـــه　　غـــنـــم وشـيـنـده کـوټـــې تـــه
له روزۍ دې ډک شه شکور　　ناوې توب دې بختـــــور شــه

دا دې کور، ناوېتوب دې بختور شــه

کوشنۍ ور کئ، پـه لـمـن کـې　　تـــار يـې واچـاوه پــه ســتـــن کـې
د دوښـــمـنـو مـخ دې تـــور　　ناوې توب دې بختـــــور شــه

دا دې کور، ناوېتوب دې بختور شــه

# هولي

د تاووس خورې هیندوګۍ ملکې
په د رنګونو په سیند ګډې تکې سپینې بتې!
زلفې دې وا‌ړوه، هوا خوره کړه
اسمان کې بیا د بوډۍ ټال واچوه
تا په رنګونو کې د شونډو سرخي پټه کړله
خو د موسکا پر مهال
چې ستا پر ښي غومبوري
وړوکې کوتی جوړ شي
په همدې ځای کې زما شونډو ته لږ رنګ وساته!

۱۱ کب ۱۳۹۶
د هولي ورځ

# باران

ځوک پوهيږي،
چې باران د کړکۍ څه کيږي؟
او د ونې لومړنۍ غوټۍ
له خپل لوند پېغلتوب څخه ځومره شرميږي؟
که وياله پاکه نه وي
نو،
له اسمانه راپرېوتي
راڼه څاڅکي به
زموږ پر بېسوادۍ ځومره خاندي؟
کله چې باران وريږي
د کډوالو مرغيو خوب
زموږ له حضوره پاک دی.
د اسمان سخاوت منم
هوا،
چې ځومره زموږ په خبرو ککړه ده

هماغومره څاڅکي رالیږي.
باران
بل څه نه دی
د خدای لاس
د طبیعت ماشوم ذهن
زموږ له ګناهونو مینځي.

کب ۲۲
۱۳۹۶

# ښښنه

زمکه لنده وساتئ
که بل څه نه وي خپلې اوښکې ورکړئ
زمکه یې نه هېروي
د هرې اوښکې په بدل کې یوه شنه پاڼه،
لړه هوا
او بس یوه شیبه ژوندون درښښي
زمکه لنده وساتئ.

# مهرباني

د خدای
د مهربانۍ رنګ
همدا دی،
چې وړیا
د باران موسیقي اورو.

✵ ✵ ✵

هیڅ وته شمېرل،
چې زموږ د ګناهونو د مینځلو لپاره
اسمان
څومره څاڅکي راولېږل؟

✵ ✵ ✵

مرغۍ لنده وه
خو د پاڼو منځ کې وچغېده
شکر یې وکیښ:

باران
د بنیادمانو تر سترګو پوست وو.

۞ ۞ ۞

شنه کبله،
چې راټوکېده
فکر يې ونه کړ،
چې د چا تر پښو لاندې به شي؟

۞ ۞ ۞

چینې وخندل
پوهېده،
چې یو ځل بیا به هم
زموږ له سترګو څخه کر کې ومینځي
او کنه
پر خیرنو لارو خو اوښکې نه راځي.

۞ ۞ ۞

هغه څاڅکی
چې ستا له پیکي راولوېد
پر باړخو ګانو دې راوړغړېده

او پر زنه دې مات شو
نن
له جګړې څخه
همدا یو فاتح راستون شوی وو

✡ ✡ ✡

باد
غلی شو
ویل:
درناوي ته ودرېدم،
باران له پاڼو نه مچکې اخلي.

✡ ✡ ✡

او
د خدای مهرباني
یو ځل بیا
موسکۍ شوه
ځکه:
پسرلی هم
پر تا مین شو.

د ۱۳۹۷ لمریز دوري ۲۸ مه

# های د زلما رسوایي!

او
یو وخت
زه هم
په دې ښار کې یو مشهور رسوا وم.
د شاعرۍ لپاره؟
نا بابا څه شاعري؟
د عاشقۍ لپاره.
زه خلکو
هېڅ د سیاست په نامه نه پېژندم
زما شناخت د لیونتوب پېژاند وو
او ته هم ډېرو خلکو
زما د ښکلې معشوقې په نامه پېژندلې
تا سره رخه وه د ډېرو نجونو
- دومره ښایسته خو نه ده!؟
- خواره شي، دا څه وایي؟
که ښکلې نه وای، لیونی شاعر پرې نه مىینېد.
تر نورو نجونو د شاعر معشوقه ښکلې وي،

تر هر چا ښکلې.
په دغه ښار کې ډېرو خلکو زموږ د مینې رسوايي پېژندله
ان، زموږ د مينې درناوی يې کاوه
د عاشقانو عارفانو زيارت
د زاړه ښار هغه نمجنه کوڅه
په هديره کې د قبرونو تر څنګ
تر یوې ونې لاندې هغه تيږه،
چې زموږ د مينې ډېرې ستړې کيسې زړه کې لري.

۞ ۞ ۞

اوس مې شعرونه د مينو سندرغاړو په سندرو کې ورک
اوس په سياست کې يم په عقل ککړ
اوس سنجيده يمه، هوښيار ښکارېږم
خو ښاريان ټول مين دي
اوس مې څوک نه پېژني
اوس راته ټول په حيرانۍ ځير وي
ځينې يې ستر ګو کې پوښتنې کوي
دا سړی څوک دی؟
له څېرې نه خو اشنا ښکاري
زموږ د ښار يو پخوانی مين د ده په څېر وو
کلونه کيږي، ورک دی
او هغه ښکلې معشوقه يې خدايزده چېرې تللې؟

اوس چې ته نه يې، نو د ښار خلک ما نه پېژني
اوس چې ته نه يې نو له ښاره ښکلا کډه کړې:
زما لېونتوب، رسوايي،
زما شاعري او شهرت،
ستا د ښکلا ستاينه،
د ښکلو نجونو رخه،
نور په دې ښار کې د شاعر د معشوقې ښايست له خلکو هېر دی.
نور په دې ښار کې د ډبرو حافظه تشه ده
د هديرې قبرونه نه ناخي د عشق کيسو ته
او زه نور نه يم رسوا
دا سياسي شوی ښار،
بې مينې څومره بد ښکارېږي.

د ثور ۱۲مه، ۱۳۹۷ لمريز

# د کهف یارانو! *

های!
له هیلمنده راروانو پلیو!
عاطفه مړه ده او زړه سوي باندې لنبې تاویږي.
هغه ډبرې زړونه
چې د ماشوم په وینو نه نرمیږي
هغه ساړه روحونه
چې بوره مور یې هم په اوښکو رحمولای نه شي
ستاسو د یبله پښو تڼاکې به نو څه پرې وکړي؟
منم چې ستاسو د پښو هره تڼاکه به پر لاره کري
د یوې پاکې او سپېڅلې زمانې اسطوره
خو،
یه د سولې ارماني عشاقو!
دغه جګړه د پانګه والې لولۍ
او د لاهور د کنچنیو د ناز
یا هم ګاونډ کې – په صیغو د مستانه اخوند – د عیش جګړه ده.

---

*له هیلمنده پلیو راروانو سوله غوښتونکیو ځوانو ملګریو ته!

يه له هيلمنده راروانو پليو
يه د مجنون پر لار مېينو زلمو
يه سپينې سولې پسې ورکو د ليلا لېونو
دغې جګړې کې دين ليلام دی او وطن هم په قمار کې تللی
د دې جګړې قيمت پېريان د (مايکرو سافټ) سنجوي
او د (ودکا) له اربړمې سره يې پرېکړه کيږي

د دوزخې مدرسې تور ايجړا په خوب کې خلاص شو:
ځان چېر ته باغ کې ګوري
د يوې نه،
د دوو نه،
پوره د دوه اويا جوړه غولانځو ټال کې زانګي
او چې راوېښ شي، په ککړ پر توک زموږ دماشومانو قتل
عام(فتوا) کړي
دغه جګړه د شهوتونو جګړه
د دې ناولې تنده
هيڅکله ستاسو د پښو تنا کې نه پېژني.

يه له هيلمنده راروانو پليو!
ستاسو له هره ګامه وګر ځېږم،
خو لږ څه تم شئ د ترنک پر غاړه
پراخه دښته کې چوپتيا ته غوږ شئ!

د دې زمان د ډبرین دیواله شا ته اورئ؟
چې د ابلیس سکه زامن مو ساده ګۍ ته خاندي؟

یه د (اصحاب کهف) د نوې زمانې ملګرو!
ورځئ ویده شئ بېرته
دا زمانه
لا تاسو نه پېژني
ستاسو جېبونو کې د سولې هغه سپینې سکې
د پانګه وال جنون په دې بازار کې نه چلیږي.

۳۱ ثور ۱۳۹۷

# توپیر

که ما
پاچایي غوښتلای،
نو
د ټاکنو پر مهال مې
هېواد
ستا د عکسونو پر ښکلا
پسرلنی کاوه.
یوازینی شعار به مې:
ستا (خندا) وای
هله به؛
ملت
زما ذوق ته پر پښو ولاړ وای
ځکه،
چې (سیاستوالو) خلک وژل،
هغه وخت
زه پر تا میین وم.

۷ جوزا ۱۳۹۷

# حسرت

خیر دی،
یو وارې بیا
ډېر ډېر کلونه روسته
چېر ته په مخه راشه
د ښار یو ځای کې او په دومره بجو
هماغه خپل یاسمني کمیس دې بیا واغونده
زه به مې سر بړمنځ کړم
هسې چې ستا خوښېده
زما په وېښتو کې اوس د سپینو ډکو شمېر زیات شوی
چې ته یې وګورې، نو کټ کټ پورې وبه خاندې
زه به لږ نیغ شم، چې نه! ځوان یمه لا
لږ څه به موسک شمه او اوښکې به مې پټې کړمه
ډېر ډېر، په تنده، تلوسه به در ته وګورمه
ستا په څېره کې به بدلون د زمانې نه وینم
ته به هماغسې په سترګو کې خبرې کوې
چېر ته به کینو او یو بل ته به په ځیر وګورو
په خوله به هېڅ نه وایو
ګیلې به هم نه کوو

جنګ خو، لاحول ولا...
شونډو ته ورکړه، هغه رنګ چې زما ډېر خوښېده
هماغه عطر په ګرېوان وشینده
پر دې به نه غږېږو
چې یو د بل په بېلتانه کې پر موږ څه تېر شوي؟
په ژوند باور نه شته دی،
مرګ هر ساعت
لکه لېوه
راته په لار کې ناست دی.
غواړم د عطرو په وږمو کې دې جنت ته ولاړ شم.

۸ سرطان ۱۳۹۷

# غیرت

په رنه یخه چینه کې
ستا تر پښو راتښولو شویو طلایي کبانو
په شوخو شوخو بې حیا سترګو
ستا په پایزېب کې د کوشنیو زرزري پاښو نازکې شونډې
په هوس وزبېښلې،
او د چینار ونه، له شرمه، سره شوه
له همغې ورځې تر ننه د چینار پاڼې بې باده رېږدي.

۱۳۹۷ سرطان ۳۱مه

# اندېښنه

دا ځینې مې هسې ملامتوي،
چې زوړ شوې خو...
زه چې مست شم او غېږ پرانیزم
دغه وږمې چې دوی یې لیوني کړي،
نوې نه دي
هماغه لس کاله پخواني عطر دي،
چې ستا له غېږې مې راغلا کړي ول.

◊ ◊ ◊

پر خپلو شونډو نو څه وکړم؟
چې لس کاله روسته هم ستا د خوږو مچکو وږم ساتي،
د شاتو مچۍ هسې راپسې دي.

◊ ◊ ◊

خو شاعر يم کنه،
چې لا مې هم مازيګرى خوښيږي
بدګومان دې نه کوي؛
لس کاله کيږي، چې هر مازيګر
ستا له ګرېوان څخه سپرلي غواړمه.

۞ ۞ ۞

زه يوازې لس کاله زوړ شوى يم،
خو ته؟
خدايزده.
ځنګه ده، چې هسې مو له ليرې
يو بل سره ليدلي واى؟
انديښنه مې ده.

# باران

باران
د خدای زېری دی.
راځئ
خیرن زړونه
وراسته ذهنونه
او
زنګ وهلې عاطفې ور ته بهر وباسو
لکه د مستې بتې سپینه سینه
لکه په ځانګه کې پېغلوټې غوټۍ
چې یې باران راته په شرک ومینځي
ښایي که بیا مو راپه یاد شي چې موږ
یو وخت پیدا وو د (انسان) په نامه
او په دې پار چې:
له یو بله سره مینه وکړو.
راځئ،
سپرلی ولمانځو
راځئ،
چې ښکلي اوسو.

# چې مين يو لا ژوندي يو

زه او ته،
دوه نامراده.
د ځوانۍ په پسرلي کې
غوړېدا کې د غوټيو
ښکلي فصل د مستي کې
نه زه ستا شوم، نه ته زما شوې.
دا دي، تېر شول ډېر کلونه
يو له بله هېر کلونه
زما څڼکې سپينې شوي
اوس کتاب ته ستر ګې بردمه
کله کله تيندک وخورم،
په ترخه موسکا راهېښ شم
يو ناڅاپه مې راپام شي
چې لا څنګه ډوب روان يم
ستا د ښکلې خندا خيال کې

ستا د دوه سترګو په ټال کې.
ګلغوټۍ!
په خوږې،
په پستکۍ!
غږ مې اورې او که نه؟
ښه پوهېږم، چې ته هم په ځان کې زانګې
د ځوانۍ د خواږه یاد ارمان کې زانګې
ستا به هم په تورو زلفو کې راښکاري
یو نیم نوی
رنګبدلی
لکه تار د نقرې ښکلی، ولول شوی
ته به هم په ایینه کې ځان ته ګورې
په حسرت د هغو ورځو کې به ښورې
چې به ما درته ویل، تا به خندلې
د بې پایه هوسونو او مستیو داستانونه.
ستا به هم د تورو سترګو په لېمو کې
د ژوندون د ستومانیو انځور مات وي
ستا به هم په نرۍ ملا کې کېږي څړیکه
کله کله به راځي ټیکرى په پیڅکه
ګلغوټۍ!
په د ستورو ناوکۍ
په د شنه اسمان په هسک سپینې سپوږمۍ

غږ مې اورې او که نه؟
راځه جوړه دنیاګۍ کړو د خیالونو
له موږ څه ځي که مېلمه شو د خوبونو؟
څوک خبر که دنیا داسې شي راتاوه؟
چې په دغې زمانه کې یو د بل شو
یو څو ورځې سره یو شو، سره خپل شو
د پخې ځوانۍ ایرو لاندې لا اور شته
له غمونو په دې سترې زړه کې زور شته
نقره یې وربښمو لاندې سر کې شور شته
داسې وګڼه چې هېڅ اندېښنه نه وي
د دې خلکو له ویلو، له کتلو
زه او ته سره تکیه یو ځای روان یو
د زاړه ښار له هغو کوڅو تېرېږو
عاشقان و عارفان به راته موسک وي
زما او ستا د هغې ګډې نښې لاندې
هدیره کې ها یوه ولاړه ونه
چې ترې لاندې پر ډېره زموږ ځای وو
یو ځل بیا که هلته ولاړ شو
ترخې ورځې د بېلتون کړو هلته هېرې
ته زما ویښتو کې سپین تارونه شمارې
زه دې تورو تورو سترګو کې بیا ډوب شم
بیا دې اوښکې او موسکا سره یوځای شي

بیا دې هېرې شي وړې وړې خبرې
تړ تړۍ ژبه دې ونښلي په خوله کې
پاتې ټولې کیسې وکړې بیا په سترګو
ستا د سترګو سمندر بیا توپاني شي
له ګیلو او له خوښیو،
ولولو او نویو هیلو
کیسې وکړي، کیسې وکړي
سمندر مې بیا پر خپلو څپو واخلي
ستا د رغوي په تودوخه کې مې لاس وي
ستا د سترګو ډوبېدو ته مې تپاس وي
ګلغوټۍ!
یه د عشق د شنو ورشو ښکلې هوسۍ
غبږ مې اورې او که نه؟
څه به وشي، چې بیا هغه شېبې راشي
ژوند راوګرځي پر هغو خوږو ورځو
چې زه تا ته له کتابه کیسې وکړم
ته مې ځیر شې بیا نظر ته
د عینکو مېلمنو هیندارو شا ته
ورو دې ګوتې کړې راوړاندې
د هیندارو سترګۍ واخلې زما له سترګو
په ترخه موسکا راګورې
وایې: ایسته کړه هیندارې

غواړم مخامخ دې سترګو کې شم پټه
غواړم ستا د سترګو رنګ کې شمه ورکه
هغه رنګ،
چې له پخوانه زما خوښ وو
چې یو وخت مې په دې رنګ جامې کولې
لا مې ایښې هغه ټولې جامې سر ته
چې یې رنګ دی ستا د سترګو رنګ ته ورته
او زه بیا په غرور واړومه سترګې
چې مې تمه بیا لږ ځان ته راپیدا شي
لږ غره شم،
چې لا هم د چا خوښېږم.
ګلغوټۍ
یه سپوږمۍ
یه خوږې، یه پستکۍ
یه د ژوند په شنه ورشو کې زما هوسۍ
داسې ورځ ته مې مېلمه کړه
دا شپې راته بیا راوړه
خواږه خوب ته
مې بیا بوځه
داسې خوب ته چې تر ډېرې
تر قیامته، تر ابده
هېڅ راویښ ورځخه نه شم

چې همداسې تا ته ګورم
چې همداسې تا ته ګورم
چې ویده شم
او ویده شم
او
ویده شم.

# کابل

کابل یو ښار دی،
یو عجیبه ښار دی.
داسې یو ښار، چې په کې سیند شته، خو اوبه نه لري
په دغه سیند کې، له اوبو نه زیاتې وینې راځي.
(اسه مایي) د کابل غر دی، چې زاړه زاړه کورونه یې پر ډډه بار دي
دې ته حیران یم، چې کرېشنا غریب د دغه غره په څه میین وو؟
د پانډو وروڼه، هغه ګرده تیږه
چې هره ورځ به په جوی شیر کې کابلیانو په شیدو مینځله
له هغې ورځې بیا تر ننه،
د کابلي یادګار په توګه،
پر خپل سر ګرځوي.
او رتبېل شاه شېر دروازه کې د متروکې په زور
له خپل زاړه دېوال نه خښته خښته بېر ته باسي
رتبېل غریب دی، خپلې خښتې په پردیو پلوري.
او کابل ښار دی،
یو عجیب غوندې ښار

داسې یو ښار، چې د ښاریانو قاتلان یې زیار تونه لري
د غبرګو تورو کیسه ټول پېژني.
خو خادمان یې خرابات کې د نیکونو د ورستو هډوکو درمند ساتي.
کابل یو ښار وو، یو عجیبه شان ښار
وایي دا ښار یې په باغونو پېژاند
باغ شهرارا،
باغ جهان ارا
باغ علیمردان،
باغ قاضي
ګلباغ،
باغ عمومي
او داسې نور باغونه،
خوشال خټک یې د مڼو په رنګ و بوی مین وو.
او بابر شاه، خپل مړی راووړ تر خپل باغه پورې
او له همدغې ورځې روسته ټول باغونه هدیرو وخوړل.
هو کابل ښار دی، عجیبه شانتې ښار
بالاحصار هم لري
پر دو او خپلو ښه پر بهانه وران کړ،
په لنبو وسوځېده،
توپونو وخوړ،
خو لا په سپینو سترګو نیغ ولاړ دی
بالاحصار یې لا د وینو تږی

لا هم د خپلو قاتلانو زيار تو ته موسک دی.
کابل د خپلو ارغوانو په نامه مشهور وو
کابل د دوو بګرامونو ترمنځ
لکه د ګوتې شين غمی ځلېده
کابل ته هره ورځ راتلل د خُتنونو ورېښم
د کابل ښکلو نجونو نوم درلوده
هو ريښتيا نجونې خو يې ټول پېژنئ،
بي بي مهرو يې د واده په شپه جګړې ته ولاړه
پېغله ناهيده يې له ډېره شرمه
ژوندۍ ژوندۍ په زمکه ننوته
او فرخنده خو لا روانه ده، ګډا کوي د اور په منځ کې
فرخنده خوښه ده د خپل بدن لنبو ته ناځي،
فرخنده دوه زره کلونه روسته
يو ځلي بيا له اسمايي سره نږدې ستې شوه.
او کابل داسې د پېغلوټو په کيسو مشهور دی.
راځئ چې ولاړ شو، سکندر وپوښتو:
تا چې روښانه در واده کړه، د ستالف انګورو څه خوند درلود؟
او کانيشکا پغمان کې
د کومې سپينې چينې
رڼو اوبو ته د بودا د اوښکو نوم وبانښه؟
کابل عجيبه ښار دی.
مظلوم کابل د چاردهي او چهلستون د وچکالۍ جشن کې

د خپلو ترېو او نهره بچو
د رګ له وینو د شرابو پیمانې ډکوي
کابل اوبه نه لري.
کابل له تندې سوځي.
زه کابلی یم، دغه تنده ډېره ښه پېژنم.
زه کابلی یم، مور مې دغه ښار کې سر سپین کړی
هغې د دغه ښار په هر واټ کې مزل کړی دی.
مور مې په دغه ښار کې زه رالوی کړم.
مور مې په دې باور وه:
"سل روپۍ راپور کړه
یو زوی په کابل لوی کړه. "

# پوښتنې

شاهپرک فکر وکړ؛
هغه شېبه چې ماتېده
خدایزده د ګل په حافظه کې څه ول؟
او ژېړه پاڼه چې راولوېده، اوبو وېوړه
د ونې ښاخ سره یې مینه نیمه خوا شوه که نه؟
څوک خبر، لمر په راختلو کې له چا ویرېږي؟
ماشوم په ډنډ کې د سپوږمۍ تصویر ته ولې خاندي؟
او فواره د کوم مرغه غږ ته په ملا کږېږي؟
بوډا چې کېناست،
له تندي یې یو روڼ څاڅکی د خولې ورغړېد
هغه شېبه، د کومې یخې چینې یاد ورغی؟
پېغلې منګي کې د چا سیوری ولید،
چې د ټیکري پیڅکه یې غاښ لاندې په خرپ ژوبله شوه؟
باد چېر ته دمه شو؟ چینار ولې بیا ورپېده؟
چونګښه ولې له اوبړیو لاندې پټه شوه، له ډېرې ویرې؟
چا د کارغه د ژوبلې تلې څړیکه وپېژنده؟
دا څه نادوده وه،
چې مار پښې د ویالني اړخ ته منډه وکړه؟

او د کربوړي رنګ بدل شو، د ډبرو تر منځ وشرمېده؟
دنګې څېړۍ لومړۍ شېبه کې د اړې غاښو ته څه وویل؟
اس ولې وشیشنېده؟
او قره قل ورکیو ولې له خپل ښکلي څرمن کرکه وکړه؟
کوچۍ، چې کېناست او ډبرې ته یې ملا تکیه کړه
څوک خبر، اوښ هغه شېبه څه و څه په خوب ولیدل؟
څوک راته ویلی شي چې:
ډبرې فکر کوي؟
غر خوربېدل پېژني؟
اوبه ویریږي؟
او کبان خوب لیدی شي؟

✡ ✡ ✡

که ښامار نه شته، ولې تل د ماشومانو په کیسو کې شته لا؟
ډایناسوران ولې له شرمه ورک شول؟
څوک راته ویلی شي دا:
چې شیطان مینه کوي؟
او که هینداره حافظه لري، نو ولې یې ګونګۍ ده ژبه؟
څوک په دې راز پوهیږي؟
نوی زوکړی ماشوم،
د مور لومړۍ موسکا ته ولې ژاړي؟
تېر کال چې هر چا مور په خوب لیدلې
د سترګو رنګ یې څه وو؟

ولې موسکۍ وه؟ ولې نه تم کېده؟
مور په زاړه کمیس کې ولې تر هر چا ښکلې وه؟
د پلار خوبونه مو رنګین دي، که ساده تور و سپین؟
که مخامخ درته د ونې ډډ کې
تور تبر خښ وي، هغې خواته مو لمونځ کیږي که نه؟
او که سجدې لاندې مو پښه د میږي ونښلي، قبلیږي که نه؟
په دې مو فکر کړی؟
چې په سجده کې، که په زوره لاس پر زمکه کېږدئ
کېدای شي زمکه خوږ شي؟
ولې د هغه فیلوسوف کتاب په اور کې وسو،
چې په یو فصل کې یې خره هم شخصیت درلوده؟
یوازې هغه فیلوسوف په دغه راز پوهېده،
چې د کونګ برندې ستر ګې
په نیمه شپه کې موږ بربنډ لیدی شي.
څوک به ځواب ووایي؟
تاووس پوهیږي، چې ښایسته مرغه دی؟
که نه؟ نو زموږ په دروغجن نظر به څومره خاندي؟
او خدایزده ولې د سلام او هر کلي پر مهال
هیڅ چا ته نه وایو چې تورو تو تکیو هم سلام ویلې؟
خړو مرغیو مو پوښتنه و کړه
او د پېروتې د ګل هم په یاد وئ؟
هیڅ چا ځواب رانه کړ،

چې له چینې څخه مو خوله واخیستله
د تندې سپین هوس مو مات شو او تږی مو سوړ شو
لاره مو لرې وه، مزل مو ډېر وو
خو چینه پاتې شوه او ماته شوه او ویې ژړل؟
هیڅ مساپر ورسره پاتې نه شو
بس یوه خوله ورڅخه ټولو غلا کړه
او چینې هره ورځ کونډتون ته څومره وژړل؟
یو خدای پوهیږي.
د مساپرو ځواب څه وو؟ چینه چا یاده کړه؟
پوښتنې ډېرې دي، خو ګل مات شوی،
چینه لا ژاړي او کوچې دمه دی.
مور لا هم ښکلې ده، خو نه تم کیږي.
شاهپرک فکر وکړ؛
نړۍ له څومره ډېرو ډېرو، ډېرو سختو او ساده پوښتنو ډکه ده لا،
خو د ځواب لپاره هیڅوک نه شته.

❖ ❖ ❖

د ۱۳۹۸ لمریز کال د وږي لومړۍ نېټه

# خپلواکي

خپلواکي د ايوب خان د شملې ول دی
د غازي امان الله د لارې پل دی
خپلواکي له ميربچه سره په ګډه
د اتل وزير اکبر د جنګ مورچل دی

خپلواکي د جينکو د مکتب زنګ ده
له تيارو سره د سپينې رڼا جنګ ده
خپلواکي د ځوان شپانه د يا کوربان غږ
خپلواکي د ملالۍ د سترګو رنګ ده

خپلواکي د هېلمند شور د پامير لوړه
انګازې يې د سپين غر پر هره تېره
خپلواکي د (ودانۍ) دوهم پېژاند دی
خپلواکي خپله ډوډۍ خپله جونګړه

خپلواکي لکه خندا د ماشوم ښکلې
خپلواکي لکه اوبه، رڼه سپېڅلې
خپلواکي د دې ملت بدن کې روح ده
خپلواکي يې د ويښتيا په نور پرېولې

خپلواکي خپلې اوبه پر خپله زمکه
خپلواکي د پوهې کر که له ټوپکه
خپلواکي څپې څپې په ولولو ده
له آمو نه رانیولې تر اټکه

خپلواکي نوې مانا د نوي ژوند ده
روښانتیا سره د سولې یو پیوند ده
خپلواکي د مور ټیکری د بابا توره
خپلواکي، خوب د جانان پر سپین مړوند ده

خپلواکي د مکتبیانو په کتاب کې
خپلواکي د مستانه میین رباب کې
خپلواکي یوه نغمه ده، یو آواز دی
خپلواکي خوږه وږمه د زلفو تاب کې

## هو، دا ته یې!

دا تـه څوک یې چې ښامار سره په جنګ یې؟
لـکـه تـنـدر راپـرېـوتـی پـر نـهـنـګ یـې
دا تـه څـوک یـې چـې تـوپـان سـره لوبېږې؟
څومره زغرد یې، څه پیاوړی، دا څه دنګ یې

دا تـه څـوک یې؟ او لـه کـومـه یـې راغـلـی؟
سـوی لـوی د ټـبـر پـه غـم داغـلـی
له مـیـرویـس او ستر احمد سره دې څه دي؟
چـې لـوی قـام دې بیا په شور دی راوستلی

خامـخـا دې لـه خـوشـال سـره خـپـلـوي شتـه
بـایـزیـد غـونـدې دې روح کـې روښـاني شته
د سـر تـور مـلـنـګ څـه کـېـږې راتـه وایـه؟
چـې دې داسـې پـه تـنـدي کـې رڼـایـي شـتـه

چې راتلې ایپي دې ولیده په لار کـــې؟
پوونده سره دې څه وویل په (ښار) کې؟
سره ټوپۍ کې دې د کوم ولي تاویز دی؟
چې یادېږي په ټپه او یکه زار کې

دا ته څوک یې؟ وایه څنګه دې بېدار کړ
دا مې قوم دې لا په کوم غږ را دوځار کړ
اباسین ته دې په غوږ کې دا څه وویل؟
چې روان دې له هېلمند سره په لار کړ

ددې ولس د ستر پاڅون اورنی باب شوې
په خپل لاس د خپل تقدیر نوی کتاب شوې
د پښتون له سوې زمکې پاڅېدلیه
انقلاب شوې، انقلاب شوې، انقلاب شوې

# ژوندون

تقدیر که وي هم بس دی، په خپل لاس یې بدلون غواړو
د خپل وطن په غېږ کې ژوندګي او سکون غواړو
پښتون ته ژوندون غواړو
پښتون ته ژوندون غواړو

یو خلک، یوه ژبه، د یو بل سره ودرېږو
په ډانګ کله بېلېږو
راګوره چې نن څنګه یو له بل ځنې ځارېږو
یو ځای به پورته کېږو
له مستـه ابـاسینه تـر امـو پیوستون غواړو
پښتون ته ژوندون غواړو
پښتون ته ژوندون غواړو

د خلکو څپې ګورئ، حق غوښتلو له اشر دي
د لر دي که د بر دي
پښتون چې بې ګناه وژني همدغه ترهګر دي
ترهګر او لنډه غر دي
چې ظلم بېخي ختم شي، یو داسې پاڅون غواړو
پښتون ته ژوندون غواړو
پښتون ته ژوندون غواړو

## پېښوره!

پېښوره! زمکه ریږدي بیا څه شور دی؟
مړو رګونو کې بل شوی دا څه اور دی؟

پېښوره! د ټیکریو رپا اورې؟
د زلمیو د څپلیو خرپا اورې؟

پېښوره! بیا د کوم بدلون ناره ده؟
د پښتون د خپلواکۍ څه ننداره ده؟

پېښوره! د جنډو سور لاله زاره
یه زما د غرړ ملګریه یکه زاره

پېښوره! هیندوکوښ سره همزولیه
یه د ګلوله سره ځوبښ سره همزولیه

پـېـښـوره! ټـول جـهـان درتـه نـن ګوري
نـــن لـه تـا سـره د ډېـرو زړونــه ښـوري

پـېـښـوره! دا پـاخـون دې مـبـارک شــه
د افـغـان د ژونـد خـوځـون دې مبارک شه

پـېـښـوره! پام چـې ببر ته راستون نه شې
خدای دې نه کا، چې پېغور د پښتون نه شې

پـېـښـوره! یـو تـوپـان شـه او سـېـلاب شه
سـتـر ټـاټـوبـی د یـــو نـوي انـقلاب شــه!

# هو! ته افغان یې

هو! ته افغان یې، ته افغان وې، لا افغان پاتې یې
ته زموږ د مینې ددې لوی وطن جانان پاتې یې

د خطې ټول سکون پرست، سکوت پرست دې واوري
د ایشیا زړه له تا دربیږي، لا روان پاتې یې

د استعمار چاړه دې پڅه کړه، خو غوڅ یې نه کړې
زخمي زخمي یې، خو لا هسک پر دې میدان پاتې یې

چا ویل چې ستا له هر تیندک سره زه نه خوږیږم؟
ته خو مې جانه! لا هر درد لره درمان پاتې یې

دوښمن ته وایه د تاریخ عظمت مې څه له پوښتې؟
خپله ولاړ پر شېرشاهي سړک حیران پاتې یې

هو! ستا لونګۍ ته په لُنګونو کې لینګي لړزیږي
چې "لکه ونه مستقیم په خپل مکان" پاتې یې

ستا د هویت دا هسک قامت ته بوربوکۍ نو څه دي
ځار شم افغانه، ته افغان وې، لا افغان پاتې یې

# تا ته وايم

کوټه واله، د ژوب چټه، کنداريه
د خوست ژړنيه، زرمتيه، پېښوريه

کونړيه، ننګرهار کې پر اور سويه
لغمانيه، د کابل سړو وهليه

کراچۍ کې، يه په خپلو خولو خيشته
مارګلې کې د پردو ټپک خوړليه

د هېلمند پر غاړه تندې سوزوليه
په سپېرو شونډو په ډک اباسين تلليه

يه وزيره، د انګرېز ټوپک ويشتليه
د مسيدو خانه، کور نه شړل شويه

يه د سوات په مرغزار کې لنبه شويه
د امو پر غاړه پروت شمله بايلليه

د بشر د حق په دغه زمانه کې
د خپل ورور تربور په قتل کې ښاغلیه

ستا د ټول ټبر د ورکې ترون شوی
یه د خپل ولس پر وینو ګډېدلیه

دنیا خپله وسله ستا پر اوږه ایښې
د ټوپک شپېلۍ ته خپل ورور درولیه

څو ملنګ ځوانان دې بیا پر مېنه ګرځي
ټوپک کېږده، غږ یې واوره سروهلیه

د بمونو، د توپونو شور کې ورکه
د ملالو د ټپو ازار ګټلیه

که دا ځل دې د یوون خوځون خپل نه کړ
د زمان د دوزخ تل ته ورلوېدلیه

بیا به هسک نه شې پر زمکه پرېوتلیه
پټان خانه، روهیلیه، پښتیانیه
یه افغانه، یه پښتونه ځانوژلیه

۱۳۹۶ د کب شلمه

# راشه چې در ځار شمه

چــــانـو د سېـلاب لاره پـه شـګـو بـنـده کـړې ده؟
پــړ کـنـده بـرېښنا يې غـښې جال کې ايسـارلـــې ده؟
ته او خدای دا ولس ګـــوره او دغــه اغـــزن تـــار ګـــوره
چا د تــوپـانـونـو لار پــه خــس خـاشـاک نـیـولـــې ده؟

—

ووايـــه چـــې دار څـــه دی او دا د اغـــزو تـــار ده څـــه؟
قــهـــر د مــلــت تـــه د کــاغـــذ دغـــه ښـامـار ده څـــه؟
شـپـږ شـلـې کـلــونـــه چـې پـرې تللي او راغـلـي دي
ځــوانو ګوربــتــانـو تــه د غــره پـر ســر دا لار ده څـــه؟

—

چــېــر تــه خـــامـــې لـوټـې بندوی شي سمندر پـه زور؟
چــېـــر تـه د پــښـتـون تـاريخ ماتيږي د لښکر پـه زور؟
ښـــه راغـلـــې، راځـه څـښــې دې مستې مستې واچوه
دا د خــپــل نـيــکـــه وطــن درخـپـل کـړه د اشـر پـه زور

—

څــوک بــه د خـوشــال زړه د کابـل لـه مښو موړ کاندي
سور مشال به څوک د پاچا خان پر زيارت سوړ کاندي
رادې وړې اغـــزي د ټـــول جـهـان، خو زما د ګـل وطن
نـــر بـــه وي چــې خـنـډ د نـګـهـتونو پر لار جـوړ کاندي

# تا داوبو په چپانظه کې ونیسم

## غزلونه

# بنګړه

لاس مې نیسه، نه لوېږمه، دومره هم خراب نه یم
ستا سترګې مې څښلې دي، نشه نه یم، شراب نه یم

غېږه رانه تاو کړه، هسې نه، ناڅاپه مست نه شم
ډېر په خود کې هم نه یم، والله چندان په تاب نه یم

راشه، چې دې تنده د غزالو سترګو ماته کړم
شور د شرشرې یم، بیابان نه یم، سُراب نه یم

پرېږده چې در ولوېږم، رڼا رڼا رڼا دې کړم
زه د لمر بنګړه یمه، تیاره نه یم، حجاب نه یم

راشه، چې یو څو شېبې سر ستا پر ولې کېږدمه
یو نفس ارام غواړم، په بېړه او شتاب نه یم

څومره مې چې واړوې، په پال دې همدا زه وځم
کرښه د قسمت يم، د رحمان بابا کتاب نه يم

غېږه کې مې وساته، لېوال د لر يا بر نه يم
ښو ته دې پايزيب نه يم، وربل ته دې ګلاب نه يم

۲۲ ليندۍ ۱۳۹۵
کرغه

# یه پیرې کاملې!

وناڅـه صنمې، پایزېــبونو نه شــرنــګ واړوه
ښکـلـې غـزا وکړه، تورې خـاورې پر جنګ واړوه

ډېـر له وینو سترې یو شراب راوړه مـسـتي راوړه
غــاړه صراحي کړه، خوله په بوټـي د بـنــګ واړوه

ومـیـنــځه له ذهنه شرنګاشرنګ د دوزخي تورو
ګـرز لـه ډولــه وبـاســه او ګــوتـې په چنګ واړوه

واه پیرې کاملې، پـه حلقه کـې دې لـوېـدلـی یـم
زلفې قصیدې غوندې اوږدې پــه مــلـنـګ واړوه

سـتـا څـپې څپې بدن، وربانديې اسمانـي حـریـر
راشه سمـنـدر غوندې، بېړۍ پــه نـهـنــګ واړوه

زه یم جل وهلی، ته باران لاندې لنده خیشته
وځنډه شبنم ورنه، کاکل دې په ځنګ واړوه

فرش د ګلابونو او پرې ته خوره وره پرته
چېرته خو مې ګرانې! پر یو داسې پالنګ واړوه

# لنبې په پياله کې

چې ژمــی وي، شــراب وي او مـاښـام د هيـنـدوبـار وي
نو خدای دې هغه خوار کړي، چې لا ناست ورته کرار وي

پر زمکه پښې ورو وهــه، چـــې دواړو بـانـدې پـوه شـم
ژر چاته سړی غوبږ شي، چې پايزېب وي او سـبـتــار وي

لــــه خُــم نــه چـــې کـبـږه وږه وږمــه ووځـــي د مـيـو
او څنګ ته يې کبږه وږه خــولــه سـتـا پــه رخـسـار وي

له زړه وتــلـې اه پــه خـولــه کـــې ونـاڅـي او واه شـــي
نـڅـا کــې چـې هيـنـدوې تـاو انـار د کـنـدهـــار وي

کــړی کـــړی لـوګــی وي او کــړی کــړی دې زلــفې
زمـا د ژونـد مـهــار دې بــس هـمـدغــو کـې ايسار وي

پياله کې چې لنبې وي او پـــرې سـيـوری وي د شـونـډو
لــېـــوال تــه خـــو همدومره ژوند، تر دې منځه په کار وي

۳۰–۱۱–۲۰۱۷

ډيلي

# اشراق

زما اروا سکون نــه مــومي پــه ثــواب، نــه پــه وبــال کــې
د هینداریې حـافـظـه یــم، مـانـا کـېـږم پـه جـمـال کـــې

سرابي تندې لـــړ تـــم شـــه، ژونـد بـیـدیا ده، اوبـه نه شته
زه په ځان کې چینه ګورم، یا د یار په شـیـنـکـي خـال کـــې

کاشـــکې داســـې صــراحـــي وای د دې دهــر کـــلال جـــوړه
ســمـنـدر یــې ځـایـولای پـه قُـل قُـل او پـه قـال قـال کـــې

اشــراقـــي الـهـامـه تـــم شـــه، زه لا څـــر خـمـه پـر کار یـــم
ستا ځواب موندلای نه شم، سرګرځنده یم خپل سوال کـــې

ستـــا پــه ستر ګو کې ځــلیــږي، هـغـه نـور بـاندې میین یم
چې مکان کې نه ځاییږي، مونده نــه شــي پــه مـهـال کـــې

راتــه وایــې شونــډې مه خوره، د بــرات پــه تـبرّک کـــې
له ښایسته روژه نــه شـتــه، د سپــوږمــۍ بـدر و هــلال کې

رانــږدې شـه کـه یـې ګـورې، چې تـه څـومـره ښـایـسـتـه یې
ستا انځور دی خدای ایستلی په دوه سترګــو د لېــوال کـې

# رڼه ښکلا

د ګل نڅا په سره لنبه کې وینم
چې دې غوسه په ایینه کې وینم

مرغیو وه مرغیو غوږ ونیسئ!
د چا خندا په شرشره کې وینم

چې به د زلفو سیوری چېرې پروت وي؟
غرمه غرمه شونډې پیاله کې وینم

تعبیر یې وپوښته له خپلو څڼو
دا سر مې هره شپه حلقه کې وینم

رڼه ښکلا مې سترګو وخښله
تا د اوبو په حافظه کې وینم

# اور

اور د پیالې دی وجود ته تللی
د جانان حُسن چا دی تللی؟

چې کړې یې هسته، ته دومره ښکلې
بس ما د هغه هنر منلی

ساقي ته راشه، بیا مې غرقاب کړه
هم تا د هجر دوزخ وژلی

دا روستی جام دی، ځکه قُل قُل کا
ما په قال قال کې دا غوړپ غوښتلی

چې کړم کوزګوری ستا ښکلو سترګو
شوم پر ټټر دې را ښویېدلی

چې جانان یاد کړم په موسکو شونډو
ته وا بیا عرش ته وم ورغلی

جـنـت بـه څـه وي، بـې سـتـا له غیږې
کوثر دې نه دی تـر شـونـډو ښـکـلـی

راشـه یـو څـرخ پـه مـیـنـه وخـوره
مـا دی مـطـرب د روح بـلـلـی

لـېـوالـه پاڅـه، پـه اتـڼ سـر شـه
د تـوحـیـد ډول دی راګـړزېـدلـی

خـدایـزده چـې بـیـا به دلته راتله وي
هـمـدا دې وار دی، کـه پـوهـېـدلـی

# څنګ

ستا د نڅا پر هــنــر مــړيــم، خــو لا جنــګ ســاتــم
په دې ډګر کــې دې د ښــکـلي پايزېب شرنګ ساتم

چې غلي غلي دې ګريوان تــه رغــړېــدل په تــنــده
د نظر څاڅکـي مې خــمــار پــر دې اورنــګ ساتم

ستــا پــر ســيــنــې د لونګين تر څنګ د خوب په پلمه
زه لا تــراوســه جــيــب کــې دوه دانــې لــونــګ ســاتــم

ستا شوخو ګوتو مــې کــاکــل کــې غــزونــې وکــړې
دا ستـــا لـــه قـصـده يــې تر بل ديـدنـه ږنګ ســاتــم

ګلاب پـرې نــه شـيـندم، ډېوې يې څنګ ته نه بلوم
لا ســتــا د عــطــر و خاطره مــې پــر پــالــنــګ ســاتــم

ونــاڅــه، وڅــرخــه، بېــغــمــه اوســه نــه يې پرېږدم
تــا تــه لــه هــر چــانــه خــالـي د زړګـي څنګ ســاتـــم

۶ ميزان ۱۳۹۷

# د نور له نوره

ستا وې خوښې، یاره! هاغه ستر ګې راکړه
خــپل لټون تــه لـه سُـراغـه ستر ګې راکړه

چـې پـرې وویـنـمـه سـتـا ښـکــلا کـامــلــه
خدایـه! دا واري بـېـداغــه ســتــر ګې راکړه

وایـي تـــه د نـــور لـــه نـوره هـــاخـــوا ښکـــاري
بـــس یـــو ځـــل لـــه دي څـــراغـــه ستر ګې راکړه

که نقاش د حسن بیا ایستم له سره
ورته وایمه، هماغه سترګې راکړه

چې د ګل د پاڼې رګ کې دې وینم
د هستۍ له شینکي باغه سترګې راکړه

زه نڅا د رڼا څولو ترینه څښمه
له دا هسې چلچراغه سترګې راکړه



# ختیخ

# ختیځ

لمر
لکه نوی زېږېدلی ماشوم
په خپل زېږنځای کې
موسکی شي
راوخیژي،
ځوان شي،
تود شي
او د غرمو مزل ووهي
لمر
په لوېدو کې
نه زړیږي
هماغسې ځوان
قتل شي او په خپلو وینو کې لېت پېت
تر لویدیځ افق پورې
خپله جنازه پر خپلو اوږو یوسي
لمر لوېده، ځکه د افق لمن سره وي.
او:

په اسمان کې هره ورځ همدا کیسه تکراریږي.

تاریخ لا تاند زلمی و
چې یو سهار تر لمر خاته هم وړاندې
یونان په ډېره غوسه
زر جګړه ماري بېړۍ
پر (اژه)[1] پورې ایستې
او د ختیځ د لومړني ښار پر لمنو یې لنګر ښکته کړ
(ټرای)[2] د لویدیځو نابللیو مېلمنو
مېلمه پالنې ته حیران پاتې شو.
ښایي، چې دا به د لویدیځ او ختیځ
د لومړنۍ مخامختیا نښه وه
ختیځ غره وو، چې مېړانه لري
خو د لویدیځ بېړۍ په (عقل) بار وې
روستۍ بریا د شیطاني عقل وي
لس کاله عقل له مېړانې سره وجنګېده

[1] اژه، د مدیترانې په شمال کې هغه سیند دی، چې یونان له ترکیې (اناتولي) څخه بېلوي. ځنډو ته یې د مرمرې، تور سمندرګي او باسفورس سیمې دي.
[2] ټرای، تروا، تروی، تروجان (Troy) هغه ښار دی، چې د ټرای مشهوره جګړه په کې پېښه شوه، د دې جګړې شرحه به روسته راشي. ویل کیږي، چې لرغونپوهانو د اوسنۍ ترکیې په لویدیځو ځنډو کې د دغه ښار کنډوالې موندلې دي.

**کيسه له مينې پيل شوه**
**له ناروا مينې نه**
**يو داسې عشق چې له تقدير څخه راوزېږېده**

**(پاريس)[3]**
**هغه شاهزوى، چې له تقديره پټ، ژوندى پاتې شو**
**ختيځ د عقل له هېواد څخه (هېلن)[4] راغلا کړه**
**(هېلن) د عقل د پاچا مېرمن وه**

---

[3] پاريس د تړاى د پاچا پريام ښکلى زوى و، دى په يونان کې د منلاس پاچا مېلمه و، چې د پريام مېرمن (هېلن) پرې مينه شوه او دواړه تړاى ته راوتښتېدل. روسته يونانيان له خپلو افسانوي اتلانو (اشيل، اوديسوس او نورو) سره په هېلن پسې راووتل او لس کاله يې د تړاى ښار کلابند کړ. تر لسو کلو روسته د اوډيسوس د چل ول او اشيل په زړورتيا تړاى ونيول او وسوزول شو، تړول وګړي يې يا ووژل شول او يا هم د مريانو او مينځو په بڼه يونان ته ولېږدول شول. د هومر دوه لويې منظومې (ايلياډ او اوډيسې) د همدغې جګړې پېښې رانغاړي.

[4] هېلن، د منلاس مېرمن (د سپارتا شاه مېرمن) او د پاريس معشوقه وه، دغه ښکلې ښځه په تاريخ کې د ښځينه ښکلا، بوالهوسۍ، هوښيارۍ او چلبازۍ سېمبول ده، ويل کيږي، چې هېلن دومره هوښياره وه، چې تر جګړې روسته يې بېرته ځان پر منلاس پاچا ومانه او د هغه مېرمن پاتې شوه.

(منلاس)[5] په ښځې پسې شرق ته راغی
زر بېړۍ راغلې چې د عقل او مېړانې جګړه ونښلوي
ټرای، د اسیا ګودر و
د ټرای د (اس)[6] کیسه د عقل د بریا کیسه ده
لویدیځ د عقل په لرګین اس کې ختیځ ته راغی
د عقل دغه لرګین اس د ټول تاریخ پر زاړه واټ راځغلي

---

[5] منلاس، د سپارتا ښاري دولت یوناني پاچا او د اګامنون ورور وو، چې د یونان د بېلابېلو ښاري دولتونو لښکرې یې په ظاهره د خپلې مېرمن هېلن د ترلاسه کولو لپاره د ټرای په لور وروخوځولې. تاریخپوهان فکر کوي، چې د هېلن په نوم ناموسي جګړه په اصل کې د اګامنون او منلاس د پراختیا غوښتنې سیاسي جګړه وه، چې له پخوا یې د ختیځو اسیایي ښارونو د لاندې کولو په پار په نقشه کې وه، چې له پاریس سره د هېلن تېښته ورته بهانه شوه او د یونان ښاري دولتونه مخ په اسیا راوخوځېدل.

[6] د ټرای اس په تاریخ کې د سیاسي چل او فریب سېمبول دی. کیسه داسې وه، چې یونانیانو پوره لس کاله ټرای کلابند کړی وو، خو دغه ښار مقاومت کاوه. په پای کې اوډیسې (اوډیسوس) یو چل وسنجاوه او له لرګیو څخه یې یو لوی اس جوړ کړ، چې په خېټه کې یې دده په ګډون یو شمېر تورزن سرتېري پټ شول، د یونانیانو بېړۍ د ټرای له کڅه لرې شوې. د ټرای ساتونکي چې کڅ ته راغلل، که څه ګوري یونانیان نه شته او یو لوی لرګین اس یې پر ځای پرېښی دی. ټرای والو دا وګڼله چې یونانیان مات شوي او دا اس د ارباب الانواعو یا یونانیانو ډالۍ ده، چې خپله ماته ومني، نو اس یې ښار ته ننه یوست او په خپله یې په اتڼونو او جشن پیل وکړ. جشن چې ګرم شو نو اوډیسې او ملګري یې په پټه د اس له خېټې راووتل او د ښار دروازې یې له دننه څخه خپلو بېرته راستنو شویو لښکریانو ته پرانیستې. د دغه اس او د اوډیسې د چل او هوښیارۍ په برکت د ټرای ښار ونیول شو.

ټرای په لمبو کې وسوو
ټرای د ښاریانو په تودو وینو کې ولمبېده
د ټرای کوشني ماشومان سر په څېړۍ
د ښار له لوړو دیوالونو څخه وغورځېدل
هېلن،
هغه د ټول تاریخ د قهر لولۍ
هغه د عقل کنچنۍ شاه مېړمن
بېرته د زوړ منلاس د کټ سپوږمۍ شوه
خو ټرای لوګیو لاندې داسې د ایرو ډېرۍ شو،
چې لا تر اوسه د مېړانې او د مینې د شکست نښه ده
مینه، مېړانه او دروغ،
چې (صداقت) یې بولي
د شیطاني عقل په وړاندې مات شول.
ټرای چې په اور، وینو، لنبو کې ډوب شو
نو د (پریام)[7] پاچا د کور څو نازولې ښکلې

---

[7] پریام د ټرای پاچا او د پاریس پلار وو، د ده بل زوی (هېکتور) د ټرای د جګړې له افسانوي اتلانو څخه ګڼل کیږي، چې د ټرای له کلا بهر له اشیل سره په مخامخ جګړه کې ووژل شو او اشیل یې مړی په خپله بګۍ پورې وتاړه او خپل لښکر کوټ ته یې راوړ. پریام په نیمه شپه کې پټ د اشېل تر لښکرکوټه ورغی او بې وسلې د خپل دوښمن تر مخ ودرېده، د اشیل لاسونه یې ښکل کړل او له هغه یې د خپل زوی مړی وغوښت. د پریام او اشیل ترمنځ دیالوګ د ایلیاد له خورا په زړه پورې او شاعرانه څپرکیو څخه دی. په پای کې اشیل د پریام په درناوي، د هغه د زوی مړی ورو سپاره او پریام د خپلې کورنۍ او ښار له تباهۍ سره یوځای د جګړې په روستیو شېبو کې ووژل شو.

د یونانیانو د هوس مینځې شوې
د (هېکتور) کونډې، (اندروماکي)[8] په اوښلنو سترګو
په کوشني زوی پسې ناڅاپه داسې چېغې کړلې:
((اهای!
د اروپا د وچې ټولو خلکو
تاسې چې لرې د اسیا او افریقا خلک بېوزلي بولئ
تاسو ته موږه، چې وحشي ښکاریږو
چې نن بېځایه ځانغوښتنو زموږ سیمې ته راوستي یاستئ
او موږه داسې کړوئ، ځوروئ
اروپایانو، د وحشت پلرونو!
اې یونانیانو، چې په خپل انسانیت باندې نازیږئ دومره
مګر پوهېږئ، چې زموږه خلکو
هیڅکله هم له یوې مور سره په دومره وحشت
او ناروا سره چلند نه کاوه؟
داسې چې نن تاسې د پوهې او د سولې وخت کې

[8] اندروماکي د هېکتور کونډه او یوه له هغو مېرمنو څخه وه، چې یونانیانو ژوندۍ ونیوله او د مینځې په توګه یې له ځان سره بوتله، خو د ټرای د جګړې دردونکې شېبه هغه وه، چې یوناني لښکرو د هغې ماشوم زوی د ټرای د کلا له لوړ دېواله سر په څېړې راوغورځاوه او د کلا تر دیواله لاندې یې ماغزه وروشیندل. د اندروماکي ساندې د اروپا په وړاندې د یوې اسیایي مور د چیغو لومړنۍ انګازه ده، چې تاریخ خوندي کړې ده.
داندروماکي دغه سانده، دیوریپدس له نوموتې تراژیدۍ (د ټرای ښځې) څخه اخیستل شوې، چې ما (لېوال) د اروانښاد اسد اسمایي د ژباړې او اقتباس له مخې په پښتو شعر رااړولې ده.

ما سره ظلم وکړ
اهای وحشيانو! های وحشيانو
تاسو زما زوی
تش د يوې مکارې ښځې د حيلې لپاره
د يوې شومې بدلمنې د فرېب په خاطر
زما له غېږې اخلئ
او راته وژنئ يې په تورو لاسو....))
خو د دې چېغې هيچا وانه ورېدې
لويديځوال بيا د خپل لرګين عقل پر اس سپاره شول
د اندروماکې د ماشوم زوی پر شيندلو مغزو
بېر ته يونان ته ولاړل.
له همغې ورځې رادېخوا
هره ورځ چې لمر،
ختيځ څخه لويديځ ته خپل سفر پيل کړي
يو لرګين اس د عقل
راځي ختيځ لوري ته،
د عقل دغه لرګين اس ښکلی دی
مګر په ګېډه کې يې
د مرګ اسباب پټ وي
په زغرو پوښ سر تيري
له تېرو تورو سره
له خونړۍ چړو او زغرو سره.

دلته ختیځ کې خلک
دې ښکلي اس ته په اتڼ سر وي
د موسیقۍ په هیاهو کې لوی اس راشي د ښاریانو منځ ته
ښځې او نر ورته خوشاله ناځي
په شور او زوږ کې ورو ورو
د لرګین اس له خېټې
په وسلو پټ عقل راوښوییږي
ختیځوال یو یو له چړو وباسي
خو ختیځوال لا هم لرګین اس ته خوشاله وي
او ناځي ورته.
دا کیسه نه ده زړه شوې لا روانه ده، د لمر په لاره
هره ورځ؛ بل او سبا بل د لرګي اس راځي
موږ ورته ناځو
د تاریخ ډګر کې
د اس له ګېډې راښوییږي، تېرې تورې او چړې او غشي...
ختیځ هوښیار نه شو
او لویدیځ موږ په وینو.

❖ ❖ ❖

یو ځلې بیا چې لمر په شنه اسمان کې وځلېده
یو بل سهار وو، چې ختیځ څخه د لمر بګۍ ور وخوځېده
زلمي تاریخ ته بل لښکر تر مخې ودرېده
یو لوی لښکر د مقدوني عسکرو

د تمدن له زاړه ښاره راتلل
ستر سکندر، ارغواني جامې او توره تر ملا
پر سر یې هسکه جوغه
د سپینې بتې یوه سپینه او پسته ښکه
سکندر نه پوهېده
چې په وجود کې یې د چا وینه ده؟
سکندر پلار نه پېژاند
چا ویل: له مور سره یې مار ویده شو
چا ویل (زیئوس)[۹] د مار په بڼه راغی
ځکه هغه پر (اولمپیاس)[۱۰] مین وو.
سکندر راغی چې ختیځ ونیسي
تر شا یې پرېښودل ډېر سوي کلي

---

[۹] زیئوس په یوناني اساطیرو کې د ارباب الانواعو مشر او تر ټولو بر خدایګوټی دی، سکندر ګومان کاوه، چې زیئوس له ځانه مار جوړ کړی وو او د ده له مور (المپیاس) سره یې شپه تېره کړې وه، چې په پایله کې سکندر وزېږېد. سکندر ځان د دغه رب النوع زوی ګاڼه او فکر یې کاوه، چې نیم انسان او نیم رب النوع دی.

[۱۰] المپیاس د سکندر مور او د شاه فیلیپ مېرمن وه، د دې او د مېړه تر منځ یې اړیکې ښې نه وې، ویل کیږي، چې د شاه فیلیپ د مرموزې وژنې تر شا یې د مېرمنې (المپیاس) لاس وو. ځکه المپیاس غوښتل، چې زلمکی زوی یې (سکندر) پاچا شي. سکندر خپلې مور ته د ډېر درناوي تر څنګ تل پر هغې شکمن و او دغو ګونګوسو ځوراوه، چې خلکو یې مور د پلار قاتله ګڼله. المپیاس د خپل زوی په ټولو جګړو او سوبو کې، هغه د لیکونو په لېږلو، څاره او مشورې یې ورکولې. د مور په وړاندې د سکندر مینه او کرکه په یوه داسې ګروم (عقده) بدله شوې وه، چې تر پایه یې د هغې بیا لیدو ته زړه نه کېده.

ويجاړ ښارونه، سوځېدلې مېنې
سکندر هسک کړل تر اسمانه له پرې شويو سرو
ډېر منارونه
ډېر ولاړ برجونه
چې لار ترې ورکه نه شي.
سکندر راغی او بابل يې لوټ کړ
د جمشېد تخت ته يې د سرو لنبو جامې واغوستې
سکندر راغی هيندوکوش نه واوښت
تر بامي بلخه يې ښارونه وسول
سکندر راغی چې ختيځ کې خپل ځواب ومومي
زه د چا زوی يمه؟ وجود کې مې د چا وينه ده؟
د شاه فيليپ، که د زيئوس او يا هم وينه د مار؟
سکندر راغی له ګرومونو او له کرکو سره
سکندر هېڅ په وينو نه مړېده
سکندر هر ځواب ختيځ نه غوښته
سکندر بلخ نه واوښت
هلته په سوغد کې يې زړه ورکړ د (روښانې)[11] په لاس
سکندر بلخ کې زوم شو

---

[11] روښانه، چې يونانيانو رکسانه او پارسيانو رخشانه ګڼله، د يوناني سوبمن سکندر لومړنۍ مېرمن وه، هغه د باختري ساکانو د يوه مشر (ګوزرياتس، اګزرياتس، اوګزرياڅ) لور وه، چې د نڅا په يوه جشن کې سکندر پرې مين شو. د روښانې د پلار سياسي پلازمېنه بلخ وو، خو قبيله يې تر سينده پورې غاړه په سوغد کې اوسېده. روښانه له سکندر سره د هيندوستان په سفر کې ملګرې وه او سکندر خپل عاطفي – رواني رازونه همدې ته ويل.

سکندر وخوت د ساکۍ ناوې پر ښکلي پالنګ
سکندر هم مینه ختیځ کې زده کړه
د بلخ چنچڼو چوپ شئ،
د هیندوکوش باده لېږ ورو چلېږه
غوږ شئ!
چې ستر سکندر
د خپلې وینې راز ساکۍ ته وایي
غوږ شئ، روښانې ته خپل زړه راسپړي:
زه هیندوستان ته ورځم
د هیندوستان په پای کې
هلته چې لوی سمندر غاړې باسي
هلته روستی کڅ، د نړۍ پای دی
له هغه روسته د خدایګوټیو لوی جهان پیلیږي[12]
زیئوس،

[12] ویل کیږي، چې سکندر ټول هېوادونه د دې لپاره ونیول، چې ځان هیندوستان ته ورسوي. یوناني پوهانو او د سکندر استادانو (ښایي له هغوی څخه ارستو هم) دا ګڼله چې د دې دنیا روستی برید د هیندوستان جنوب ختیځې څنډې دي. تر هغه روسته د ارباب الانواعو نړۍ یا اخرت پیلیږي. سکندر چې ځان د زیئوس زوی ګاڼه، غوښتل یې هلته ورشي او د خپل پلار په مرسته د ارباب الانواعو په منځ کې تلپاتې ژوند ومومي. سکندر تر اباسین (اندوس) پورې ورسېده، خو د لښکریانو ستومانۍ او په ده کې روانې توپانونو وړاندې پرې نه ښوده. راستون شو او ځان یې تر بابل پورې ورساوه، چې هلته بیا په ځوانۍ کې ومړ.

پوزئيدون[۱۳]،
اتنا[۱۴]،
افروديته[۱۵]،
اپولون[۱۶]،
ارتميس[۱۷]
او هېرا[۱۸]
ټول هماغلته دي.
ورځم چې ويې پوښتم
دوی به له خپلې تورې ووېروم
دوی دې ځواب ووايي
چې زه د چا زوی يم؟
زما په وجود کې د زيئوس

---

۱۳ پوزئيدون، د سيندونو او اوبو رب النوع.

۱۴ اتنا، د آتن ساتونکې ربة النوع، د عقل، هنر او ادبياتو ښځينه.

۱۵ افروديته، د زيئوس لور، د ښکلا، مينې، جنسي راښکنې (جاذبې) او شهوت ربة النوع.

۱۶ اپولون د زيئوس لور او د روغتيا او وړاندوينې ربة النوع.

۱۷ ارتميس د ښکار، کرنې، بکارت، چاپېريال ساتنې، او مياشتو ربة النوع، دا هم د زيئوس لور وه.

۱۸ هېرا د کرونوس لور د زيئوس خور او مېرمن ده، دا د ټولو ارباب الانواعو شاه مېرمن هم ګڼل شوې ده. خورا حسوده او د زيئوس پر نورو مېرمنو او معشوقو بېرحمه خدايګوټې ګڼل شوې ده.

که د فیلیپ او یا د مار وینه ده؟
هو زه پاچا د پاچایانو،
زه خوني سکندر
بس په همدې تپوس ختیځ ته راغلم
زما مخه و موخه هیندوستان ده، هلته ځان پېژنم
ورځم چې ټوله نړۍ پښو لاندې کړم

زه،
سکندر یم
د دې ټولې نړۍ لوی پاچا.
یه هیندوستانه!
یه د شرق غمیه
یه د عجیبو افسانو هېواده،
ستا جاذبې او کشش
ستا لیونتوب ختیځ تر پښو لاندې کړ
سکندر ستا لپاره رود د وینو وبهاوه
سکندر ستا لپاره ډېرې غاړې وربېلې
بس له هم هغې شومې ورځې بیا تر ننه پورې
هر لویدیځوال توره تر ملا وتړي
او ستا لپاره د ختیځ د بېګناهو وینې وبهوي
تا د سکندر پوښتنه نه کړه ځواب
درویشت پېړۍ واوښتې

چې سکندر يا يې کوم زوی يا يې لمسي
کړوسي
په هيندوستان پسې لښکر راولي
غواړي په دې پوه شي
چې د سکندر وينه د چا وينه ده؟
په هيندوستان کې د لويديځو د نسب ورکه، لا هم ورکه ده
ستر هيندوستان به دا ځواب ووايي؟
چې څوک د چا زوی دی؟
سکندر راغی په لغمان[19] پورې وت
په الينا[20] کې کنګلونو وخوړ
په باجوړ کې غشي وځوراوه
په تکسيلا کې يې ځواب وغوښت
خو اباسين غوسه وو
د اباسين څپو څپېړه ورکړه
سکندر تږی ولاړه
له اباسينه تږی.
سکندر لوړه وکړه،

[19] سکندر د کاپيشا (کاپيسا) پر لار لغمان ته ورسېده او د الينګار سيند پر څنډه څنډه الينا يا ننني نورستان ته ورننوت، ويل کيږي د هغه د سفر تر ټولو بدې او سختې ورځې همدلته وې. په سخت ژمي کې وننښت او په جګړو کې يې سخت ټپونه وليدل. د ده په لښکر کې د ستومانۍ او پښېمانۍ نښې هم له دې ځايه راپيل شوې.
[20] الينا، بلورستان، کافرستان، ننني نورستان.

چې زه به بېر ته راځم.
ګونګ هيندوستان د لويديځوالو نسب پټ ساتلی.
د هيند زرينه مرغۍ
درويشت پېړۍ د لويديځوالو د خدايګوټو کور دی.
درويشت پېړۍ کېږي، چې غږ راځي
د سکندر د ګامو
لويديځ په کړس کړس خاندي
ختيځ سلګۍ وهي د خپل وجود لنبو کې ناځي
او لرګين اس د عقل هره ورځ مشرق ته راځي
زموږ اټنونه او نڅاوې ترې چاپېره وي د اور او اوښکو
د لرګين اس له خېټې ورو ورو راښوييږي عقل
په وسلو پټ او د شيطان په وسوسو پوښلی
يو داسې عقل چې د مرګ او لنبو وږم لري
عقل سرود وايي:
ختيځ هوښيار نه شو
او لويديځ موړ په وينو.

لمر لا هم هره ورځ سهار زيږي
لکه ماشوم دنيا ته موسک شي او رڼا راولي

لمر هره ورځ د ختیځوالو د حیرت پیغام
لویدیځ ته ځان سره وړي.
یوه ورځ ځوان تاریخ تر خپې خندا ته خوله پرانیسته
د لرګین عقل دروازې ماتې شوې
تر یو زېړي مازیګر روسته چې ماښام بر شو
بیا په لویدیځ کې چا سهار ونه لید
عجیبه دا ده، چې لمر هره ورځ مغرب کې پرېوت
خو سباوون او رڼا نه راتلله
په اروپا کې اوږده شپه پیل شوه
زر کاله شپه اوږده شوه.
(صلیب) د لمر مخې ته سیوری وکړ
د ډرای له ښاره یې د عقل لرګین اس وشاړه
د خونړي اس له لرګیو یې بېشمېره صلیبونه جوړ کړل
(عقل) صلیب باندې راوځړېده
عقل تر زر کلونو پورې پر صلیب ځوړند وو
خو لمر به هر مازیګر
تر لمر لوېدو پورې مزل کولو
ختیځ یونان ښخه پور کړې پوهه وساتله

په هیندوستان کې د (جنتر منتر)[21] له بامه ستوري وشمارل شول
چین د کاغذ او د باروتو انبارونه هسک کړل
غزني کې زر پوهان راټول شول، چې دنیا وپېژني
بلخ،
داوو ښارونو هغه ښکلې ناوې
اوس د ښارونو مور شوه
ختیځ د پوهې ستوري وځلول
ابن سینا
البیروني
تر فارابي او رازي
بغداد و شام نه رانیولې تر سیستان و ګورګان

[21] جنتر منتر په هیندوستان کې د نجومي څېړنو او رصدځایونو مرکز ته وایي. په هیندوستان کې داسې مرکزونه پرېمانه او لرغوني دي. په مغولي دوران کې دربار خورا پام ورته کاوه او ډېرې پرمختللې څېړنې یې کولې. ابوریحان البیروني هم په خپل کتاب (تحقیق ماللهند) کې د دغو مرکزونو او څېړنځایونو یادونه کوي. د راجستان ایالت په پلازمېنه جېپور کې د جنترمنتر یو همداسې مرکز لا تر اوسه ساتل شوی دی، چې خورا په زړه پورې او د حیرانتیا وړ وسایل لري. لیکوال دغه ځای کتلی.

بیت الحکمه[۲۲] لکه د پوهې زانګو
د بخارا او سمرقند هر کتابتون نه زر اوښان بارېدل
خو ختیځوالو لا د (عقل) دوښمني پالله
د (استدلال) پښه لرګینه پښه
او دا پښه وه بې تمکینه پښه[۲۳]
ختیځ لا هم د اسمان ستوري شمارل
له دوی وه زمکه هېره
د دوی نه خېټه، نه ډوډۍ په یاد وه
ختیځ لا کار او تولید نه پېژانده
ختیځ یوازې د یونان حکمت ته ناست وو، امانت یې ساته
ختیځ له ګټې، له حکمت او هم له زُهده ستړی
بس د عرفان په مغاره کې پټ شو
ختیځ له نفس سره جګړه پیل کړه

[۲۲] د دوهمې هجري پېړۍ په دارالخلافه بغداد کې د بیت الحکمه پخوانی څېړنځای او پوهنتون جوړ شو، له بنسټي پلوه دا د طب او طبي څېړنو منځی وو، خو روسته د نورو علومو پوهان هم ورته راټول شول. بیت الحکمه د یوناني فېلاسوفې د ژباړې لومړنی مرکز وو. روسته بیا د ارستو، اپلاتون، بوکرات (بقراط) او نورو یوناني فېلاسفه وو اثار د بیت الحکمه په دود په ټوله اسلامي نړۍ کې جاري وساتل شول. په بیت الحکمه کې فېلاسوفي، الهیاتو، نجوم، منطق، ریاضي، هندسې، فزیک، کیمیا (شیمي) ادبیاتو، کلام، موسیقي، دیني علومو او نورو پوهنو ته ځانګړی پام کېده.

[۲۳] ((پای استدلالیان چوبین بود
پای چوبین سخت بی تمکین بود))
مولانا جلال الدین محمد بلخي

ختیځ له عقل څخه وتښتېده
ختیځ په هو او الاهو لګیا وو
چې د ویښتیا د سباوون ستوري لویدیځ کې هسک شو
او زر کلنه بوډۍ شپه په ځنکدن پرېوته
په (اندلس) [۲۴] کې ابن رشد د فارابي او بوعلي فلسفه
بېرته لویدیځ ته ورکړه
دوی ورنه تش لاسونه بېرته راغلل
او لویدیځوال،
چې یو ځل بیا له زر کلن خوبه ورو ورو ویښېدل
له (اپلاتون) او (ارستو) سره خپل کور کې مخ شول
(صلیب) وروست شوی وو صلیب ماتېده
د هنرونو، د پوهنو، د حکمت او فلسفې ستوري
یو یو را هسک شول د لویدیځ پر اُفق
د کلیسا پر وراسته واټ باندې د دار پړي چینجیو خوړل
تر صلیبونو لاندې سترې شول د دین قصابان
د کشیشانو سلاخي مړه شوه

[۲۴] اندلس نننۍ اسپانیا، چې جنوب ختیځې څنډې یې د اسلام د سپېڅلي دین د پراختیا په مرکز بدلې شوې، د اروپا هغه برخې وې، چې تر نورو وړاندې عربي سوبمن وروررسېدل. د څو پېړیو لپاره د اندلس (غرناطه، اوسنی ګرانادا) او څو نور ښارونه د اسلامي تمدن مهم منځي وو، ابن رشد په همدې حوزه کې واوسېده او نامتو ابن عربي هم هلته وزېږېده خو ژوند یې په دمشق کې تېر کړ.

ګالیلو[۲۵] چیغه کړه، چې:
هو! لمر تر زمکې ګرځي
او ما توبه کړې ده!!!
او چې د دار د کړۍ وېره یې له کوږ او رمېږه وو تله
نو د پښې ګوتې یې ولیکل پر زمکه داسې،
((... خو حقیقت دا نه دی
زمکه تر لمر تاوېږي.))
لویدیځ راوېښ شو او لویدیځ د لمر په وړانګو روڼ شو
(صلیب) رانګ شو او پر ځای یې (انسان) ودرېده
د بیا ویښتیا پیغام ساده وو، بس یو لنډ پیغام:
(انسان) تر هر څه لوړ دی!
خدای هر څه خلق کړل د انسان لپاره
زمکه، اوبه او ژوند، اسمان او ستوري
پوهه، هنر او ډوډۍ
ښکلا او مینه او ژوند.
له کلیساوو یې سره زر راټول کړل
او ښایسته نجونو ته یې ښکلي امېلونه جوړ کړل

[۲۵] که څه هم د زمکې د کرویت او پر لمر یې د راڅرخېدو پېژندونکی پولندي نیکلاس کوپرنیک وو، خو ایټالیوي ګالیلو (ګالیله، ګالیلې) هم په دې ناندریو کې د محکمې تر بریده ورغی. په دې اړه د ګالیلو توبه لیک د علم په برخه کې د تاریخ په یوه ترخه طنز بدل شوی دی.

(مونالیزا)[۲۶] وموسل
خو ختیځ نه ویښېده
ختیځ لا سمڅه د عرفان کې په اوږده مراقبه پروت وو
غرمه وه،
لمر تاریخ ته لار وښوده
ختیځ د ولږې استغنا کې ډوب وو
مشرق د خدای له نعمتونو څخه نه و خبر
زمکې یې شاړې وې اوبه یې خړې
هیندوستان ډوب وو د مغولو تر بزمونو لاندې
د وزیرانو لوی سیاست یې دا و:
چې د (سلیم) او ښایسته (انارکلي)[۲۷] د مینې راز وساتي
جوګیان په لرې ځنګلونو کې پر ډنډ اوبو ناست

[۲۶] مونالیزا (د ژوکوند موسکا) د ایټالوي انځورګر لیوناردو داوینچي هغه مشهوره نقاشي ده، چې د رنسانس (بیا ویښتیا) د هنري دورې سېمبول هم ګڼل کیږي. ویل کیږي، چې په نړۍ کې هېڅ انځور د دغې تابلو تر بریده مشهور شوی نه دی. دغه پینځه سوه کلن انځور اوس د فرانسې په پاریس کې ساتل کیږي.

[۲۷] په هیندوستان کې د مغولي ستر پاچا جلال الدین محمد اکبر زوی شاهزی سلیم (نورالدین سلیم جهانګیر) په ځوانۍ کې د دربار پر نڅاګرې (انارکلي) مین شو. د دوی دواړو ممنوعه مینه کلونه کلونه د مغولي دربار د وسوسو او سیاسي بحثونو موضوع شوه، د پلار او زوی اړیکې یې خرابې کړې، تر دې چې اکبر پاچا یې د نڅاګرې وژلو ته مجبور کړ. د انارکلي مینې، بېلتون او بیا یې ظالمانه وژنې ځوان شاهزی سلیم د لېونتوب تر بریده ورساوه.

چین کې د (مینګ)[۲۸] او (چینګ)[۲۹] تر منځ جګړې وې
ایران حیران و، چې سُني او که شیعه کافر دي؟
د عثماني دربار عشاقو[۳۰] یو پر بل د کودتاوو پټ خوبونه لیدل.
اروپا ویښه شوه، ماشین یې جوړ کړ
علم یې خپور کړ د چاپ شویو کتابو پر کرښو
او ماشین وغوړېده،
ماشین انسان ته بې ډوډۍ او بې اوبو غلام شو
زمکې یې تېرې کړې له وږي کومي
په اروپا کې زمکه کمه شوه او پانګه زیاته
(پانګه) د نوې زمانې ناوې شوه
(پانګه) او (ګټه) د لویدیځ غیرت شو
(انسان) د ګټې او د پانګې غلام
انسان نه هېر شو د ویښتیا پیغام
لویدیځ انسان خپله ګټلې خپلواکي ډېره ونه شوه ساتی

[۲۸] مینګ او چینګ په منځنیو پېړیو کې د چین دوه شاهي لړۍ وې.

[۲۹] د چینګ پاچایان د منچو یا لویو چینګانو په نامه هم مشهور ول. دوی د مینګ لړۍ پای ته ورسوله او پر چین یې له ۱۶۴۴ څخه تر ۱۹۱۲ پورې واک وچلاوه، چې د چین روستۍ شاهي لړۍ وه، تر دوی روسته په چین کې جمهوریت واک ته ورسېده.

[۳۰] د عثماني امپراتورۍ د پای پېړۍ په عثماني دربار کې د کورنیو شخړو او کودتاګانو د هڅو کلونه وو، په دې پېښو کې د شاهزیو او شاه لوڼو تر منځ د مینو او بیا له پوځي جنرالانو سره د شاهي کورنیو د حرم او ښځو اړیکو دغې شاهي لړۍ ته خورا لوی حیثیتي زیانونه ورسول.

خپلواک انسان د ګټې وټې او د پانګې مریی شو بېرته
ژر یې د پانګې طلایي زنځیر پر غاړه پرېوت
او اروپا کې زمکه ورکه شوله
او لویدیځوال په نورو زمکو پسې ووتل له خپلې وچې
ځینې لویدیځ څخه لویدیځ ته ولاړل
د سور پوټکیو طلایي هېواد یې
د مېښو غواوو له پادو سره تر ستونې تېر کړ
او د پُنبو په کروندو یې د تورپوستو مریانو لوی لښکر مېلمه کړ
او څه یې راغلل بیا پر هغه لاره
چې سکندر وو پرې راغلی، چې نسب وپوښتي
اروپایان هم هیندوستان ته، ورک نسب پسې نه،
بلکې په زمکه او کانونو پسې راغلل له ټوپکو سره
زمکه ماشین وخوړه،
د ښکېلاک نوې زمانه پیل شوه
ختیځ لا هغسې ډوب تللی وو د عشق او د عرفان سمڅه کې
چې طلایي مرغۍ په دام کې راغله[۳۱]
روستۍ سندره یې بیا شنه شوله پر وچه، جل وهلې ژبه:
ختیځ هوښیار نه شو
او لویدیځ موړ په وینو.

---

[۳۱] په ښکېلاکي ادبیاتو کې یې هیندوستان زرینه مرغۍ ګڼله.

تاریخ بوډا شو، پر ملا کړوپ روان دی
اوښلنې سترګې یې چې لمر ته ځیر کړې
لا هم له شرقه وو مغرب ته روان
لویدیځ د (عقل) برخه دوه ځایه کړه
نیمه یې وساتله خپل ځان ته، چې ژوند پرې وکړي
نیمایي نوره یې مشرق کې د عقلي ویښتیا د لارې خنډ کړ
له هم هغه وخته تر ننه دا کیسه روانه
لویدیځ نیم عقل باندې دا دنیا جنت کړه ځان ته
نیمایي نور عقل یې غل کړ په ختیځ کې ګرځي
چې ختیځوالو نه ویښتیا ولوټي
ختیځ ویده دی، د تریاکو په خوب
ختیځ د مرګ په بستره کې پروت دی
لویدیځ کې عقل شو د (ګټې) غلام
عقل کارګر شو او د پانګې پر ماشین ودرېد
هغه ماشین چې لکه ژرنده د اخلاقو پر سرو وینو ګرځي
دغه ماشین (عاطفه) نه پېژني
لویدیځ انسان تر (ویښتیا) روسته تر هر څه (مهم) شو
زمکه، اوبه، پوهه، هنر او هر څه
ان د ختیځ انسان د ژوند او وینې ټولې سرچینې بس،
د همده لپاره!
سرچینې، های سرچینې

د نړۍ ټولې سرچینې چېرې دي؟
لویدیځ
جنون د سرچینو اخیستی
(تېل)، (اوبه)، (طلا)، (یورانیوم)....
ګټه او پانګه
کار و کارګر او مارکیټ
تکنولوژي او امنیت
وسله او جنګ پر عقیده ختیځ کې.
د نړۍ ټول عقل پر دغو څو نومونو څرخي
سیاست د دغو څو نومونو لوبه
لویدیځ د عقل برخه دوه ځایه کړه
نیم یې د خپلو (انسانانو) نېکمرغۍ ته بېل کړ
او نیم یې نور په وران ختیځ کې ګرځي
چې سرچینې ومومي
ختیځ ته بار دی کاروان
نوي (حقونه) له لویدیځه راوړي:
څه د (بشر حقونه) او څه د ښځو، ماشومانو یا د نورو بېچاره وګړیو
تر ټولو ډېر یې د وژونکیو، ټوپکمارو، لوټمارانو حقوق
کیسه روانه ده، پېچلې ښکاري
د ټرای د جنګ زمانه تېره شوله
نور له لویدیځه د لرګین اس خېټه نه راوړي د عقل توري
او سکندر هم د نسب پوښتنه نه کوي له سوي هینده

شرق را ویښ شوی دی د عشق او د عرفان له خوبه
شرق راویښ شوی، خو هوښیار لا نه دی
لکه بنګساره، ګرد پر ځان راڅرخي
شرق د نړۍ د قصابانو چړې ټولې په لاسو تړلې
ختیځوال دوه ډلې شول؛
نیم یې کافر دي، نیم یې نور د کافرانو دوښمن
د لویدیځ ټولې وسلې دلته راځي
خو دا ځل پټې نه دي
دا ځلې نه راځي د ټرای د لرګین اس خېټه کې
ختیځ وسلې په لوړه بیه اخلي
د وسلو بیه څه ده؟
تېل، بشري قوه، پوډر او بلها نورې سرچینې د زمکې
او څو د وینو ویالې،
چې په لویدیځ کې پرې د عقل ژرندې وڅرخیږي
ختیځ پر سره تبۍ ناست
د دوښمنیو بهانې ډېرې دي
عقیدې ډېرې دي
او جنګ د ایمانونو پر تللو کیږي
اوس نو خدایګوټي چېر ته لرې هیندوستان کې نه شته
د سمندر پر غاړه نشته د سکندر هغه ورک شوی جنت
دنیا ګردۍ ده، د دنیا پیل او پای ورک دی
اوس نو هیڅوک د ورک جنت په لټه نه راځي تر هینده پورې

اوس نو د تېلو په څاه ګانو پسې خلک وژني
افریقا سوزي د الماسو او سروزرو اور کې
ګټه او پانګه د انسان پېژاند دی
په اروپا کې د ویښتیا زمانه هېره شوله
انسان،
د سرو زرو یو داسې بوت شو
چې هره ورځ یې پښو ته
د سلو زرو اسیایي – افریقایي بنیادمانو وینې
د قربانۍ په دود وړیا بهیږي
هو،
د انسان او بنیادم ترمنځ همدومره فرق دی
انسان لویدیځ کې اوسي
پانګه لري، ګټه کوي
فکر کوي
بنیادمان په افریقا او په اسیا کې اوسي
کار کوي، زیار باسي
پر عقیده جنګیږي، ژوند نه غواړي
دغه دنیا ور ته دوزخ ښکاریږي
شرق له لویدیځه د اخلاقو ګدایي ته ناست دی
د بشري حقونو هغه ټاپو
چې له دې ځایه ښکاري
هلته د ځوړنده ډوډیو وطن

ونې د سروزرو له پاڼو ډکې
او په ویالو کې یې شیدې بهیږي
ختیځ ته هر څه له لویدیځه راځي
پوهه، امنیت او تخنیک
خو د ختیځ دغې پوښتنې ته ځواب نه راځي
چې د سیاست کتاب کې
هغه یو فصل چې (اخلاق) نومېده
د پانګې کومو موږکانو وخوړ؟
او (ګټې) څنګه (عاطفه) له انساني فرهنګه وویستله؟
ختیځ کې داسې مهذب او مؤدب خلک شته
چې د لویدیځ تهذیب ته سر ټیټوي
د غرب د ټولو ارزښتونو درناوی هم کوي
د بشري حقونو،
ډیموکراسۍ او د بیان خپلواکي
ښاري اخلاقو او پر ژویو د زړه سوي پر نسیب
قانون او سوله د (انسان) لپاره
ښه حکومت او هم سیاسي مسئولیت
د ښاروندۍ حقونه
او مدني ټولنه،
خو
په اسیا او افریقا کې د بنګساره، وږي تږي بنیادم پوښتنه
لا بیځوابه پاتې

(استخبارات) څه کوي؟
او د وسلو کارخانې ولې د ګلونو ګېډۍ نه جوړوي؟
د تېلو بيه په ډالرونه ده
هره بوشکه ده په يوه (مرمۍ)
هره مرمۍ د يو کافر لپاره
هره بوشکه د يو شرقي کافر د ژوند په بيه
د هر شرقي دوکاندار لاس کې يوه تله ده (ايمان) پرې تلي
مرګ د ايمان لپاره
ژوند د ايمان لپاره
د لويديځوالو د وسلو د کارخانو لوګي خو وينئ، کنه؟
دا هغه اور دی، چې زموږ پر ايمانونو بل دی
دوزخ همدې ته وايي.
لويديځ کې ټول جنګونه
د موزيمونو په تاخچو کې ايښي
هلته جګړه، د غلامۍ په څېر تاريخ ته تللې
تر څو چې ګټه وي، توليد او شيطاني عقل وي
تر څو چې خپلې جګړې
دلته ختيځ کې اوږدولای شي، د پانګې په زور
ترڅو چې دلته د (کافر) او د (مومن) جګړه وي
لويديځ به خپلو کې جګړه و نه کړي
هغه د ټرای د لرګين اس خېټه کې
د کمپيوټرو موږکان ګرځي

د ټول جهان جګړې به څو (جي . بي)[۳۲] وي؟
استخبارات
د لرګین اس له خېټې
د اسیا ټول جنګونه
د ویډیو ګېم په شان له لرې څاري
د (ابن رشد) او (بویوسف کندي)[۳۳]
عرب زامن یو بل ژوندي سوځوي
هر یو د خپلو حکیمانو په شمېر
پر انسانانو د څو ډوله قصابیو تجربې شماري
د درېیو لویو اسماني دینونو
جګړه اوس هم په پلستین کې کیږي
د اورشیلیم کلیسا
د سلیمان معبد
او
بیت المقدس.
مصر د ټولو فرعونانو تاوان بېرته ورکړ
شام،
هغه لوی ښار د حکمت او پوهې
داسې هوار شو لکه هېڅ چې نه وو

[۳۲] جي بي (G.B) د کمپیوټري حافظې واحد.
[۳۳] ابویوسف یعقوب بن اسحاق بن الصباح الکندي نوموتی ریاضي پوه، فېلسوف او عرب منجم، چې عربي ته د یوناني حکمت د اثارو د ژباړې پیلوونکی ګڼل کیږي.

بصره
کوفه
او بغداد
ټول رنګ شول.
سوري ماشوم
د شرقي روم په کوم یو کڅ کې اوبو وړی پروت دی
ختیځ چې ناځاپه رااووت د عرفان له سوفه
سترګې یې ومونبلې
پخوانی وېش یې هېر شو:
خوارج
رافضیان
معتزله
فاطمیون او نور...
اوس خو عرب او عجم
نوي وېشونه لري:
تور بیرغ
سپین بیرغ!!!
استدلال نه شته او منطق مړ دی.
د ټولو لاس کې ټوپکونه دي د ډزو موسیقي غږوي.
او هلته لرې د برما پر زمکه
د سرو جامو راهبان
د روهینګیانو له پوستکو نه چمبې جوړوي

(بودا) خمارې ستر ګې ناست دی او لا ګوري ور ته
بودا باور درلوده
چې ژوند په دومره درد و رنځ نه ارزي
او زموږ مطلقه نیستي
(نیروایانا) نومیږي.
استخبارات
د سکندر پوښتنه:
څوک به د چا زوی وي؟
زیئوس د مار په شکل هره ورځ بابل ته راځي
او د عراق او شام لپاره د (نکاح) نوي تخمونه کري.
کشمیر د (هیند) په زاړه زخم کې لا ګوتې وهي
او نورستان و کونړ
لا هم د هغه ټپ تاوان ور کوي
چې د سکندر پر اوږه
د (راسا)[٣٤] غشي کېښود.
سکندر لوړه وکړه
چې زه به بېر ته راشم.
هغه اوس هم دلته دی.
سکندر بیا د ټرای لر ګین اس باندې سپور راغلی

---

[٣٤] راسا د کونړ د سیند زوړ نوم دی. ویل کیږي، هغه جګړه چې د سیمي خپلواکۍ غوښتونکیو د همدې سیند پر غاړه له مقدوني سکندر سره وکړه او په هغې کې د سکندر په اوږه غشي ونښت، روسته بیا د راسا جګړې په نامه هم وپېژندل شوه.

د اس په خېټه کې یې سل (جي. بي) جګړه راوړې
زمانه ډېره ده په وړاندې تللې
نوره جګړه پر زمکو نه ده، پر لښکرو نه ده
جګړه په دې ده، چې لمانځه کې چا لاس چېرې ایښی
لاس پر ټټر، که پر نامه او یا هم ځوړنده لاس؟
دلته زرګونه ماشومان ووژني
ځینې اودس کې پښې مینځي ځینې مسح کوي.
ختیځ کې جنګ پر ازادۍ هم نه دی
دلته سکندر ډېر مهربانه دی، سخي پاچا دی
هر څوک چې جنګ کوي وسله ور کوي
وسله پر پیمانه ده، ډوډۍ نه شته

۞ ۞ ۞

تکنولوژي
تکنولوژي د نومهالې زمانې غلامي
د هر سړي شخصیت د ده په ډېټابېس کې پټ دی
او په لویدیځ کې د (انسان) ژوند و شخصیت او هر څه
د بانک په هغه (کرېډټ کارت) کې پټ دي
چې د قیامت عملنامې په څېر یې
هره ورځ اخلي په ښي لاس او ور کوي یې په کیڼ
کرېډټ کارت د انسانیت معیار دی.
(سوشل مېډیا) ده د اخلاقو معاصره مانا
د شمالي کوریا ماشوم،

خپلې ربړې لېندۍ کې ايښې اټومي خولۍ ده
د (ترهګرۍ) شطرنج له لرې کيږي
(تورې) او (سپينې) خانې ځنګ تر ځنګ دي
پر تور او سپين بيرغ يوه کلمه
اس
پاچا
وزير
پياده
مات او کشت.
د ختيځوالو هوښياري وګورئ!
وايي: انګريز دې پر موږ رحم وکړي
او امريکا دې مهربانه شي لږ
زموږ په لاس دې وسله نه راکوي
چې پرې يو بل ووژنو.
نړۍ د ګټې په جنون کې ور که
پر انسانيت باندې د پانګې سپېره دوره ناسته
او د تاريخ بوډا بېسده پروت دی
تاريخ له تبې ربړدي
تاريخ په پر تو سر دی
تاريخ ځګېروی کوي، په نيمه ژبه:
ختيځ هوښيار نه شو
او لويديځ موږ په وينو.



ادبي چينه کوټه